
# عبدالغفارخان

## پاچاخان



نصیراحمد احمدي

عبدالغفارخان (پاچاخان)

نصیراحمد احمدي



نصیراحمد احمدي

د پاچا خان ژوند لیک د اروابناد نصیر احمد احمدي په ښکلي او انځوریز نثر لیکل شوی اثر دی. دا کتاب د اروابناد د ژوند د ورستیو ورځو کار دی چې د ۱٤۰۰ کال په اسد کې د پاچا خان د نړیوال سمینار په ویاړ چاپ شو خو د سیاسي حالاتو د تغیر په وجه سمینار ونشو او اوس ښایي دغه کتاب په بازارونو کې پیدا نشي. د افغان ښځو انلاین ادبي بهیر ویاړي چې د مرحوم احمدي دغه کتاب په انلاین بڼه خپروي او د ادب مینه والو ته یې وړاندې کوي.

دافغان ښځو انلاین ادبي بهیر
Afghan Women Literary Online Association

# عبدالغفارخان

## باچاخان

لیکوال: نصیراحمد احمدي

۱۴۰۰ کال

بسم الله الرحمن الرحیم

کتاب پېژندنه

کتاب : عبدالغفارخان (پاچاخان)

لیکوال: نصیراحمد احمدي

چاپ کال: ۱۴۰۰ لمریز

## يادونه

د پاچا خان ژوند ليک د ارواښاد نصير احمد احمدي په ښکلي او انځوريز نثر ليکل شوی اثر دی. دا کتاب د ارواښاد د ژوند د ورستيو ورځو کار دی چې د ١٤٠٠ کال په اسد کې د پاچا خان د نړيوال سمينار په وياړ چاپ شو خو د سياسي حالاتو د تغير په وجه سمينار ونشو او اوس ښايي دغه کتاب په بازارونو کې پيدا نشي. د افغان ښځو انلاين ادبي بهير وياړي چې د مرحوم احمدي دغه کتاب په انلاين بڼه خپروي او د ادب مينه والو ته يې وړاندې کوي. ياد اثر به په صوتي بڼه د بهير د غړې اغلې مينا نظري په غږ کې د ادبي بهير له خواله رسنيو خپربږي .

د دې اثر د موندلو او انلاين بڼې خپرولو پريکړه د مرحوم احمدي د دويم تلين په مناسبت د افغان ښځو انلاين ادبي بهير په ځانګړې غونډه کې شوې وه. په هغې غونډه کې د ارواښاد پر کار، ژوند او هنر په لسګونو مقالې او خاطرې واورول شوې او خپرې شوې. د ګران افغانستان د ادب او فرهنګ د خدمتګارانو عزت او قدرداني به نه هېروو.

په درنښت،

د افغان ښځو انلاين ادبي بهير

د سرطان ۱۹مه، ۱۴۰۲ل

**له نورو بېل ماشوم:**

" ماشوم وم، يو سهار د کلي جومات ته د سبق له پاره تلم، گڼ خلک په مخه راغلل، يوه تربره مې اشاره راته وکړه، دی ملک و، نوم يې درلود، خلکو د عزت سړی باله.

ملک ځو واري لاس راته وخوځاوه، پوه نه شوم، جومات ته لاړم. خو د هماغه ورځې په مازديگر کور ته راغی، غوسه و، سپک يې کړم، بې ادبه او نالايقه يې وگڼلم، ويل يې چې سترگې دي پټې وې، بسته تاڼه دار دې ونه ليد، ته بايد تاڼه دار صېب ته درېدلی وای، غبرگ لاسونه دې پر ټټر ورته ايښي وای، ملا دې کړوپه کړې وای، سلام دې اچولی وای.

خو زما سترگې په رښتيا هم پټې وې، تاڼه دار مې نه و ليدلی.

خوار، بېوزله، غريب انسان خو پرېږده، لوی خان يا ملک به هم عادي تاڼه دار ته لړزې اخيستی و.

په لږ لويينې کې مې له يوه پرنگي سره وپېژندل، دی زموږ ځمکو ته نږدې ديوه زراعتي تحقيقاتي فارم مشر و، زما له زراعت سره جوړه وه، غوښتل مې چې نوې مسلکي کرنه ترې زده کړم، کله کله به فارم ته ورتلم، نوې خبرې به يې راته کولې. يوه شپه مو مېلمه کړ، د شپې تر ناوخته ناست وو، نيمه شپه له کوره ووت.

وریاده مې کړه چې یوازې یې، د استوګنې تر ځایه درسره ځم، خو ده وخندل، ویې ویل چې یوازې یو څراغ راوړه. کله چې د لاټین ژېړه رڼا زما (انګرېز) پر خولۍ لګېدلې وې، هېڅوک دومره زړه نه لري چې نږدې راشي.
ظلم و، پولیسو به په وړه خبره عامو خلکو ته څپېړې نیولې. نه به یې سر ته کتل، نه پښو ته. عادي پولیس ته به لویو لویو خانانو مېلمستاوې کولې، ډالۍ به یې ورکولې، له دوی سره شناخت ښه و، ویاړ یې باله، د دوی په مټ یې له خپلو کمزورو او زورورو تربرونو غچ اخیستی شوای.
دلته عادي تاڼه دار سم فرعون و، یوه ورځ د عجب خان په نوم یوه خان له یوه تاڼه دار سره مازې خوله ووهله، تاڼه دار ته غوسه ورغله، خان یې پانسي کړ. عسکر ته هم چا پورته نه شوای کتلی."
دا د عبدالغفارخان (پاچاخان) خبرې وې، دی د انګرېز د راج په وخت کې پیدا شو، خاپوړې یې وکړې، په پښو ودرېد، د باندې ووت، سترګې یې ورغړولې، بې عدالتي یې ولیده.
خو د انګرېز دا ظلم ډېر پخوا پیل شوی و، انګرېزان په ۱۶۰۰ م کال کې د لومړۍ ملکې الیزابت په وخت کې د یو تجارتي شرکت په بڼه هندوستان ته راغلل، دوی د پنبې، ورېښمو، طبي بوټو، مالګې، چایو او تریاکو کاروبار درلود. هندیان عاجز او نالوستي خلک ول، ژر غلطېدل، انګرېز به په کمه بیه محصولات ترې واخیستل، کېښتۍ به یې بار کړې او په نورو هېوادونو کې به یې په لوړه بیه وپلورل.

دې شرکت د وخت په تېرېدو سره د هندوستان تقریبا ټول تجارت تر خپل واک لاندې راووست اوبېوزله خلک یې له اقتصادي اړخه یرغمل کړل. دوی کلونه کلونه په ظاهره یوازې تجارت کاوه، خو په پټه یې د خپلو پوځونو د ور وستلو نقشې او پلانونه جوړول. دوی د هندوستان بانفوذه او غښتلي کسان تر خپل واک لاندې راوستل او ورو ورو یې انګرېز پوځ ته د ورتګ زمینه برابره کړه. زمینه برابره شوه، انګرېزان ورغلل او د هندوستان ټول امور یې تر خپل واک لاندې راوستل.

دوی ځايي خلک(هندوان، مسلمانان او سیکان) په پوځ کې داخل کړل، خو د سر کسان یې ټول انګرېزان ول. د دوی د پوځ د سرتېرو شمېر کابو دریو لکو مجهزو کسانو ته ورسېد. کله چې پیاوړي شول، برالا یې هندوستان خپل ملکیت وګاڼه.

دوی درې ځله افغانستان ته هم لاړل، خو لنډ وخت وروسته به یې ماته وخوړه او بېرته به ووتل.

خو په هندوستان کې خلک په یوه خوله نه ول، په ځینو سیمو کې هندوان، سیکان او مسلمانان را پورته شول، خو دا مبارزه منظمه نه وه، ډېر ژر به یا په جګړو کې ووژل شول او یا به یې سرونه د فیلانو تر پښو ورلاندې کړل.

خلک ووېرېدل او د پاڅون جذبې کلونه کلونه غلې شوې.

د ډېورنډ تر کرښې هاخوا زیاتره پښتانه هم تر ډېره غلي ول، ډېرو یې د انګرېز حکومت منلی و او مازې ګذاره یې کوله. خو عبدالغفارخان ته دې نیم ژواندي

ژوند خوند ورنه کړ، دی د خپل ولس د راویښېدو په فکر کې شو. خو دې کار لویه حوصله غوښته، عبدالغفارخان پوهېده چې هېڅوک په یوازې ځان څه نه شي کولای، دا بې اتفاقه ولس به اول یو لاس کوي، یووالی به راولي، که یو شو، بریالی دی.

عبدالغفارخان د ولس یوالی غوښت، ویل یې چې انفرادي حرکتونه مه کوئ. ځان ژوبلوئ، انفرادي حرکت ژر ختمیږي، د دښمن وس په اسانه دربانديې بر دی، نتیجه نه لري، یو موټی شئ، اجتماعي حرکت وکړئ، اجتماعي حرکتونو ته هر ظالم تسلیم دی، زور یې نه پرې رسېږي، څه نه شي پرې کولی، له وسه یې وتلې ده.

عبدالغفارخان په شلمه پیړۍ کې د پښتنو د ملي ازادۍ د تر ټولو لوی غورځنګ (خدایي خدمتګارانو) بنسټ کېښود.

خو عبدالغفار خان څوک و؟

که د پېښور له ښاره کابو شل میله شمال ختیز لور ته مزل وکړې، په چارسده کې به د اتمانزو کلي ته ورسېږې، دا شین کلی د سیند پر غاړه لمر خاته خوا ته پروت دی. عبدالفغارخان په ۱۸۹۰م کال کې په همدې کلي کې وزېږېد. پلار یې بهرام خان نومېده، لوی خان و، له حساب وتلې ځمکې یې درلودې، خو له دومره ډېرې شتمنۍ سره خاکساره، صابر او نېک انسان و. مېلمه یې درلود، په ګڼو خدمتګارانو کې یې مېلمه ته په خپله ډوډۍ ور وړه، دا کار یې د مېلمه عزت باله.

ده پر خپل نوي زیږېدلي ماشوم عبدالغفار نوم کېښود.

د کوچیني عبدالغفار (پاچاخان) مور هم زړه سواندې او مینه ناکه ښځه وه. دوی ډېر ځاروي لرل، غریب کلیوال به ډله ډله ور روان وو، د دوی له کوره به یې شیدې او مستې وړلې. کله کله به یې غریبو کلیوالو ته جلا کټوې باندې وې. کورونو ته به یې پاخه خواړه ورلېږل.

هغه وخت په ټولو پښتون مېشته سیمو کې مکتب نه و، د زیاترو قومي مشرانو او ځینو ملایانو له مکتب سره نه وه جوړه، حساسیت یې ورسره درلود، ماشومان به یوازې د دینې زده کړو له پاره جوماتونو ته تلل.

خو نورې سیمې داسې نه وې، حکومت هر ځای ګڼ مکتبونه جوړ کړي ول، ان پوهنتونه ول، خو په پښتون مېشتو سیمو کې به یوازې د کلي ملا صېب په نیمچه خط پوهېده.

وروسته یوازې یو صنف جوړ شو، یو استاد یې درلود، استاد اسماعیل نومېده، پښتون ماشوم ته به یې په اردو ژبه درس وایه.

حکومت، ځینو قومي مشرانو او ملایانو همدا غوښتل، دا قوم همداسې پټې سترګې ښه و، که یې درس ویلی وای، نو پوهېدل.

پوه، لوستی او هوښیار ولس د ازادي په مانا پوهېده، خپل حقوق یې غوښتل او دا د حکومت په ګټه نه ول. حکومت به ملایانو ته ویل چې د مکتبونو مخه ونیسئ، که خلک هوښیار شول، نو ستاسو بازار سوړ بوله.

حکومت پوهېده چې ولس په ملا پسې روان دی، هره خبره يې مني. که ملا يو وار ورته وويل چې مکتب کوپر دی، بس! کوپر دی، خدايکه دې بېرته مسلمان کړ. کوپر نو هېڅا نه غوښت.

ځينو ملايانو به د مکتب پر ضد تبليغ کاوه، دوی هغه وخت مکتب ته مدرسه ويله (اوس هم په ځينو قبايلي سيمو کې مدرسه ورته وايي). خلکو ته يې ويل چې که چا خپل ماشوم مکتب ته ولېږه، نو راتلونکی اوه پښته نسل به يې د دوزخ په سرو لمبو کې د تازه حلال شوي چرگ غوندې ترپکې وهي. دوی په مکتب پسې سندرې جوړې کړې وې:

سبق د مدرسې وي

د پاره د پيسې وي

جنت کې يې ځای نه وي

په دوزخ کې په گسې وي

خو بهرام خان دوزخ ته ونه کتل، کوچينی عبدالغفار يې هماغه يوه صنف ته ور ولېږه. دې کار څو نور کليوال هم زړور کړل، فکر يې وکړ چې که مکتب بد وای، نو خان صېب به خپل اولادونه نه ور لېږل.

دا ماشوم په مور او پلار ډېر گران و، تر ټولو کشر اولاد يې و، ډېر يې نازاوه. مور به يې د زوی د ناروغۍ پر وخت تر ناوخته ورسره ويښه وه، غټ هلک به يې په زانگو کې پرېيستی و، زنگاوه به يې، سترې به شوه، خپله خدمتگاره به يې را وغوښته.

هغه وخت به کندوان له غنمو ډک ول، مور به د کوچیني عبدالغفار لمن له غنمو ور ډکه کړه، ماشوم به په کلي کې د هندو دوکان ته ورغی، غنم به یې ورکړل، چهارمغز به یې واخیستل. وروسته به یې په خپله له اجازې پرته، په غلا دوکان ته غنم وړل، مور به یې لیده، خو څه به یې نه ورته ویل:

عبدالغفارخان په خپله وایي:

" زوی مې ولي (ولي خان) راته ویل چې په لندن کې وم، یوه ورځ له ونې غټه تکه سره مڼه را ولوېده، یوه کوچیني انګرېز ته مې ونیوله، ده مننه رانه وکړه، ویې ویل چې دا مڼه نه شم خوړلی، مور مې راته وایي، هغه څه چې زموږ نه دي، حق نه لرې چې استفاده ترې وکړې. خو ما به له خپل کندو غلا کوله، مور به مې لیدم، خو د ګرانښت په خاطربه یې غږ نه کاوه. ښه نه وه، دې باید منعه کړی وای، که ماشوم په ماشومتوب کې غلا وکړي، نو دا خوی د عمر تر پایه ورسره ځي. خو زه ښه وم، ژر مکتب ته لاړم، د غلا عواقب یې را وښودل."

په دې کور کې به لکه د نورو ډېرو پښتنو غوندې اول نارینه وو ډوډۍ خوړه، وروسته به هماغه کاسې ښځو ته ورتلې. دا کار د کوچیني عبدالغفار نه و خوښ. ویل یې چې ښځه هم انسان ده، دوی هم باید تازه ډوډۍ لنده کړي. هغه وخت دا رنګه فکر په لویانو کې هم نه و. همدا منل شوې وه چې ښځو ته به د نارینه وو له تورو نوکانو پاتې شوې ډوډۍ ورځي او دوی به یې خوري. ځکه عادي خبره وه، عادي خبره که بده هم وي، خو منل شوې وي، چاته بده

نه ښکاري، خو دې کوچني ښېل فکر درلود، نور په يوه لار روان ول، ده لا هماغه وخت له نورو خپله لاره بېله کړې وه. نوې لاره ژوند او انساني حقوقو ته رسېده. هغه وخت په ولس کې دښمني ډېرې وې، چا چې به نوی کور جوړاوه، که به بدي دار هم نه و، اول به يې په برجونو يا دېوالونو کې د مورچو د جوړېدو مناسب ځايونه پسې غوښتل. شاوخوا به يې کتل چې کوم ځای د ټوپک د ميل د ايستلو له پاره ښه دی.

دا مورچې يې اوس نه وې په کار، دوی د راتلونکې غم خوړ، د ښې راتلونکې نه، دښمني ته به يې مخکې تر دښمني ترتيبات نيول. درس نه و، زړونه له بدبينۍ او حسادته ډک ول، ډېرو کورنيو د بېگاه ډوډۍ نه درلوده.

هېڅچا د حکومت د ظلم په وړاندې سر نه شو پورته کولی، يو عسکر به له لرگي سره راغی، ډله خانان او ملکان به يې تاڼې ته بوتلل. هلته به يې په وړه خبره بې عزته کړل، بېرته به ځړېدلي سرونه خپلو کورونو ته لاړل، خپله غوسه به يې په خپل بېوسه بزگر او يا کوم بل خوار کليوال سړه کړه.

کوچيني عبدالغفار خان به هر څه ليدل، د ولس بدمرغيو به يې کوچينی زړه خوړ.

وروسته يې مشر ورور خان صاحب په پېښور کې ابتدايه ښوونځی پيل کړ، دی يې هم ور وغوښت. په پېښور کې هندوانو او پنجابيانو استادانو درس ورته وايه، درس يې نه زده کېده، پردۍ ژبه وه، خو له لوبو سره يې جوړه وه، کرکټ ژبه نه غوښته، ښه يې زده کړ.

بیا یې له غریبو هلکانو سره جوړه شوه، له هغوی سره یې کرکټ کاوه، خو نورو منعه کړ، ویل یې چې دا د ټولنې د ټیټو خلکو اولادونه دي، ته د لوی خان زوی یې، ښه نه ورسره ښکارې.

دوی بنگیان او چوړیان د ټولنې تر ټولو ټیت خلک گڼل. له هغوی سره خبرې هم د ځان بې عزتي ورته ښکارېده، خو کوچینی عبدالغفار هماغه وخت لا د طبقاتي وېش مخالف و، ده ټول د خدای مخلوق بلل، فرق یې نه کاوه، د دې خبرو په کیسه کې نه و، خاني یې پرېښوده، خو خپل نوي ملگري یې د پخوا غوندې ملگري پاتې شول.

دی په درسونو کې تکړه نه و، پردۍ ژبه یې نه وه زده، درس به یې څنگه په ککرۍ کې سره اړاوه، ایله به په امتحانونو کې کامیاب شو، نومرې یې کمزورې وې.

په شپږم صنف کې له خپل ورور سره بل مکتب ته لاړ، دلته یې ځیني استادان انگرېزان وو، د هندوانو او پنجیابیانو لوښو به هم درس وایه، خو په ټول مکتب کې پښتنه نجلۍ نه وه. پښتنې نجونې یوازې ولور ته پیدا وې، بس! چې څنگه به یې خپل ښی او کین لاس وپېژاند، ور به یې کړه، زیاترو پښتنو حتی دې ته هم نه کتل چې خپله لور چاته ورکوي!

باچا خان په خپل کتاب ( زما ژوند او جدوجهد) کې لیکي:

" د درس په وخت کې یوه ورځ له ښاره کلي ته لاړم، په ټانګه کې سپور وم، یودم مې یوې ځوانې نجلۍ ته ور پام شو، دا د سیند پر سر پر پله ولاړه وه، ناڅاپه یې ځان اوبو ته ور واچاوه.

خلک خبر شول، چیغې شوې، ورې کینښتې، راتاو شوې، لامبوزن اوبو ته ور ولوېدل، نجلۍ یې له څپو را وایسته، مړه نه وه، کله چې په هوښ راغله، ژړل یې. ویل یې چې کاشکې مړه وای.

خبره مالومه شوه، دا وړه نجلۍ یې اویا کلن بوډا ته ورکړې وه. دې له خدایه خپل مرګ غوښت.

دې پېښې ډېر وځورولم، دا خلک حتی دومره هم نه پوهېدل چې له شرعي اړخه د جوړې انتخاب د هر چا خپل حق دی، د زور نکاح نه کېږي، که پوهېدل هم، ځانونه یې نه خبرول، د ولور پیسې یې له ګوتو وتې."

څه وخت وروسته یې مشر ورور د درس له پاره ممبۍ ته لاړ، عبدالغفار خان یوازې پاتې شو. په لسم صنف کې یې یودم له پوځ سره مینه پیدا شوه، ورغی، ده ښکلې ځواني او لوړه ونه درلوده، هېڅ ویل یې نه لرل، پوځ ته جوړ و، نیوی یې، خو هلته چې یې کله انګرېز ته د ځینو عسکرو تر حده ډېره ټیټېدا ولیده، غرور یې ونه منله، له پوځه منصرف شو.

وروسته کیمبل پور ته لاړ، هلته یې په یوه کالج کې داخله واخیسته، خو درس یې پوره نه کړ، په هماغه لسم صنف کې یې درسونه پرېښودل.

**تاند ځوان، پوخ فکر**

ځوان عبدالغفار خان په خپل ولس کې خاص و. نورو په انفرادي توګه د خپلو ځانونو هوسايي غوښته، خو له ده سره په تنکۍ ځوانۍ کې تر ځان ډېر د نورو غم و. هر يوه هڅه کوله چې ځان پورته کړي، خو ده ويل چې په يوازې ځان، ځان نه شي پورته کولی، که ټولنه پورته شي، نو ته هم پورته کېدای شې، ځکه نو له هماغه نوې ځواني لا د ټولنې د هوسايي او را پورته کېدو په فکر کې و. خو د ولس دا راپورته کېدا له درس او تعليمه پرته ناممکنه وه.

د ده له پوه او ترقي غوښتونکو ملايانو سره جوړه وه. ډېر وخت به ورته، خبرې به يې کولې، سبق به يې ترې وايه، د دين په اړه به غږېدل. هغه ملايان يې ښه اېسېدل چې د ولس ويښېدل يې غوښتل.

عبدالغفارخان د مولوي عبدالعزيز په نوم يو عالم ملګری درلود، له هغه سره وغږېد، دواړو په ګډه په لومړي ځل په خپل کلي اتمانزو کې يو ابتدايه مکتب جوړ کړ، ځينو ملايانو ته د مکتب جوړېدلو خوند ورنه کړ، په غوسه شول، خو مولوي عبدالعزيز خبرې ورسره وکړې، منطقي دلايل يې ورته وويل، غلې يې کړل.

دوی دواړه به په کليو ګرځېدل، له خلکو سره به يې خبرې کولې، د دينې مدرسو او مکتبونو د جوړېدو په اهميت به يې پوهول. د دوی خبرو پر ځينو کسانو اغېز وکړ، له تعليم سره يې شوق پيدا شو، خو ځينې ملايان د مکتب خلاف ول، نه يې خوښېده.

یوه ورځ د عبدالغفارخان دوی کلی ته نږدې د مفتي اباد اوسیدونکي راغلل، له تنکي غفارخان یې په خپله سیمه کې د مکتب د جوړېدو غوښتنه وکړه، ده په خوشالي ومنله، هلته ورغی، له خلکو سره یې د مکتب په اړه خبرې کولې چې دا وخت یو ملا له ټوپک سره راغی، ویې ویل چې زه د عبدالغفارخان انگریزي مدرسه نه منم، ما یې کتابونه لوستي دي، یو ځای لیکلي چې یوه سپي وغپل، بل ځای راغلي چې یو غټ اینځر. څه مانا؟! دا نو علم شو؟! له غفار خان سره به همدا نن او همدا ساعت فیصله کوم، زړه یې، خبرې غواړي که ټوپک.

عبدالغفارخان ورته وویل چې زه د ټوپک سړی نه یم، نه مې دی خوښ، خو زما د تره د زوی له ټوپک سره جوړه ده، ور وبه دې لېږم.

وروسته ورسره وغږېد، د علم فرضیت یې یاد کړ، ویې ویل چې سمه ده، موږ به د انگریز مکتب نه جوړوو، راځئ، تاسي یې جوړ کړئ.

ملا ته یې وویل چې ژوند یوازې دم او چوف نه دی، هر کار په تاویذونو نه رغېږي، که داسې وای نو پیغمبر (ص) به دومره سختې نه گاللې، لوږې، تندي به یې نه تېرولې، د خلکو د پوهولو له پاره به یې پلې مزلونه نه کول، په گېډه پورې به یې د ډیرې لوږې له لاسه تیږې نه تړلې.

عبدالغفار خان لا په ځلمیتوب کې نورو ته د قناعت ورکولو قوي ژبه درلوده، هره خبره یې له منطق او استدلاله ډکه وه، په خبرو کې یې د خلکو د پوهولو له پاره ساده مثالونه راوړل، ورو غږېده او په دې پوهېده چې د ده ولس له

پېرېيو راهيسې په تياره کې ژوند کړی، فکرونه يې په اسانه نه بدلېږي، حوصله او زحمت غواړي. ده به ويل چې دا خلک نه د دين شول، نه د دنيا، په اسانه غلطيږي، هر څوک استفاده ترې کوي، په خپل مينځ کې يې جنګوي او د دوی له ناپوهي ګټه اخلي. نه، پښتون زړور دی، خو لږ کار غواړي، له ديني زده کړو سره مکتب هم ضرور دی:

" ملايانو به د مکتب مخالفت کاوه، خو موږ ته به يې په مکتب کې ديني زده کړې راکولې، پوه عالمان مو درلودل، د جومات تر ملا يې ښه پوهولو، د کلي د جومات ملا هېڅوخت کوم ماشوم ته د لمانځه مانا نه وه ورښودلې، خو موږ په مکتب کې د لمانځه مانا زده کړه، تفسير يې را وښود، ډېر حديثونه مو له مانا سره زده وو. خو نه، د کلي ملا به خامخا د مکتب مخالفت کاوه، که ولس هوښيار شوی وای، نو د دوی دوکان سړېده، څوک نه ورتلل، سودا يې نه کېده. خو د ولس په هوښيارېدو کې دوی ګټه کوله. زه يو وخت د چکر له پاره د مري غرونو ته لاړم، ځيني ملايان هم راسره و، ښکلې سيمه وه، شنه غرونه او روانې رڼې اوبه يې درلودې. يوه ورځ له ملايانو سره د باندې ووتم، يو ښکلی پوخ کور مو وليد، ډېر ښکلی و، ملايانو ته مې وويل چې دا څنګه کور دی؟

دوی يو ساعت د کور د ښايست ستاينه کوله.

ورته ومې ويل چې د کور ترمخ په شنه چمن او ګلانو کې هغه ماشومان څنګه درته ښکاري؟ ټول په يوه خوله ول، ماشومانو لوبې کولې، خندل يې، ملايان د دوی د اسرات په اړه راته وغږېدل، وروسته مې د کور تر مخ ولاړ موټر ياد کړ،

خوښ یې شو، ویې ویل چې د خدای بختور به همداسې ښکلی موټر لري، بیا مې ورته وویل چې هاغه پر څوکۍ ناست سړی څنګه درته ښکاري؟ دوی یې د ښکلو او قیمتي جامو ستاینه وکړه.

ورته ومې ویل چې دا د پرنګیانو ملا دی، د دې ملا قوم په ګېډه موړ دی، دی هم ورسره موړ دی، قوم یې کورونه لري، دی یې هم لري، قوم یې په موټر کې ګرځي، دی هم بې موټره نه دی، قوم یې اسراتمن ژوند لري، دی هم اسراتمن دی، نو تاسو ولي د خپل ولس پوهي او ترقي ته خوابدي یاست او نه یې پرېږدئ، که ولس ترقي وکړه، په ګېډه به ماړه شي او چې په ګېډه ماړه خلک ولرو، تاسو ته یې هم خیر در رسېږي، خو دوی نه منله، د مکتب نوم اور ورباندې بلاوه. فکر یې کاوه چې که خلک پوه شول، درس یې ووایه نو نه به څوک ذکات ورته نیسي او نه به یې له مدرسې سره مرسته کوي.

یوازې پښتانه نه ول، په ځینو هندوانو او سیکانو کې هم همدا خبره وه. ښه مې په یاد دي، یوه ورځ له ګاندي سره سبوا ګرام ته لاړم، ګاندي ګڼو خلکو ته خبرې کولې، ویل یې چې زموږ د دربدرې او خوارې ورځې یو لوی علت دا دی چې کار نه کوو، د نورو جېبونو ته مو سترګې نیولې دي، لټ یو، مذهبی مشران (برهمنیان) مو تر ټولو ډېر لټ دي، هېڅ کار نه کوي، تل یې نورو ته هیله وي. په ګیتا ( د هندوانو په دیني کتاب) کې راغلي چې که څوک کار نه کوي، خو خوراک کوي، هغه غل دی."

عبدالغفارخان له ځینو ملایانو پزې ته راغی، د مکتبونو جوړېدو ته یې نه پرېښوده، دی مجبور شو چې د ترنګزو له حاجي صاحب مرسته وغواړي، هغه یې د مکتبونو سرپرست وټاکه، د ترنګزو حاجی صاحب عالم انسان و، ملایانو سترګه ترې کوله، مخالفتونه یو څه کم شول.

د غفارخان له حاجي صاحب سره له اوله جوړه وه، دی عالم انسان و، د ولس خیر یې غوښت، عبدالغفارخان به ډېر ورته، هلته یې له ګڼو نورو دیني عالمانو سره وپېژندل. ده د دیني عالمانو په مرسته په ډهلي کې د د یوبند په دارالعلوم کې ملګري پیدا کړل. د دې دارالعلوم مدیر مولانا محمود الحسن عالم او فاضل انسان و، له علم سره یې عمل هم درلود، ده غوښتل چې هندوستان د حکومت له ظلمه خلاص کړي.

**د ازادي مبارزه:**

عبدالغفارخان به د دیوبند دارلعلوم ته ډېر ورته، په دارالعلوم کې یې نور ازادي غوښتونکي عالمان هم وپېژندل، له هغوی سره به یې خبرې کولې او په دې به سره غږېدل چې ولس د حکومت له ظلمه څنګه ازاد کړي.

خو پام به یې کاوه، هغه وخت حکومت ډېر جاسوسان درلودل او د حکومت پر ضد بغاوت د چا په ذهن کې هم نه ورګرځېده.

عبدالغفارخان به د جاسوسانو له ویرې نېغ د دېوبند دارالعلوم ته نه شو ورتلای، اول به یې بل ځای ته د رېل ټیکټ اخیست، بیا به له هغه ځایه ډهلي ته تلو.

عبدالغفار خان به ډېره مطالعه کوله، خو تر ټولو یې د مولانا عبدالکلام ازاد د الهلال اخبار ډېر کوت، یو به هم نه ترې قضاه کېده، دې اخبار د کار خبرې درلودې. وروسته د مدینه بجنور اخبار هم را ووت، دې دواړو اخبارونو ولس را ویښاوه او د وطندوستي خبرې پکې وې.

دا اخبارونه په ټول هندوستان کې ازاد وو، خو پښتون مېشتو سیمو ته پټ وړل کېدل، د حکومت نه وو خوښ.

عبدالغفارخان ته څو ځله شناخته پولیس ورغلل، ورته ویې ویل چې دا اخبارونه مه را غواړه، په جنجال اوړې، ځوک چې دا اخباورنه لولي، حکومت یې خپل دښمن ګڼي.

اخبار خلک ویښول، خو د زیاترو کلیوالو له اخبار سره جوړه نه وه، وېښیدا یې نه غوښته. عبدالغفارخان به کله کله خپلو باوري ملګرو او کلیوالو ته اخبار وایه، خو هغوی د اخبار خبرې هوایي ګڼلې. علاقه یې نه ورسره درلوده.

عبدالغفارخان په دوه ویشت کلنۍ کې لومړی واده وکړ او داسې ځوک یې وموندل چې اخبار ته غوړ ونیسي.

دی لیکي:

" پښتنې نجونې تر نارينه وو ذهينې دي، ما به مې خپلې کور ودانې ته اخبار وايه، ډېر ژر يې مينه ورسره پيدا شوه، د دين او ژوند خبرې يې زده شوې، دا به کله کله خپلې پلارگنۍ ته ورتله، هلته په ټولو گرانه وه، خبرو ته يې غوږ نيوه، ځکه نوې وې، دې د اخبارونو په برکت په خپله پلارگنۍ کې ډېر بدلون راووست. ښځې يې ديندوسته او وطندوسته کړې.

ما به تل کوښښ کاوه چې له ښځو د کمترۍ احساس ليرې کړم، دوې تر نارينه وو کمې نه وې، حتی ډېرو يې تر نارينه وو خلاق ذهنونه لرل، په خبره ښې او اسانه پوهېدې، خير او شر يې سره جلا کولای شوای، خو نارينه وو همدا ذهنيت ورکړی و چې تاسې په هېڅ نه پوهېږئ.

دوی په هر څه پوهېدې، تر ډېرو نارينه وو ښې او اسانه پوهېدې. خو چا اهميت نه ورکاوه. ما به خلکو ته ويل چې اې خلکو! ښځه او نر دواړه خدای ته يو شان دي، خدای فرق نه دی پکې راوستی، تاسو ولې فرق راولئ، حقوق يې ورکړئ، د انسان په سترگه ورته وگورئ.

ولس ته به مې ويل چې ښځې پټې سترگې مه ساتئ، نجونې مکتبونو ته ولېږئ، ځکه همدا نجونې په راتلونکي کې ميندې دي او يوه ټولنه له ښځو پرته پرمختگ نه شي کولای، ځکه ژوند او ټولنه پر دوو ټايرونو روان دي، يو يې ښځه ده بل نارينه، دواړه ټايرونه بايد جوړ وي، که نه نو ژوند او ټولنه پر مخ نه شي تلای.

ما به خپله میرمن هم پوهوله چې تر هېچا کمه نه یې، مرگ او ژوند د خدای په لاس کې دی، خو که زه تر تا مخکې مړ شوم، نو د خلکو په خبرو پسې به نه گرځې، خامخا به واده کوې."

غفار خان هوايي خبرې نه کولې، ده به هر مثبت تغیر اول له ځان او خپلې کورنۍ را شروع کاوه. دی په خپل ولس کې لومړی کس و چې په خپل کور کې یې د ښځو او نارینه وو دسترخوان یو کړ، د کور ښځو ته به د سړو له گوتو پاتې، سوړ کتغ او چیچل شوي هډوکي نه ورتلل، ټول به پر یوه دسترخوان را ټول ول، یو ځای به یې ډوډۍ خوړله.

ده د کور ښځو ته د خبرو اجازه ورکوله، له هغوی یې مشورې اخیستې، نظریات یې منل کېدل، دی په خپله سیمه کې لومړنی کس و چې خپله وړه لور یې مکتب ته ولېږله.

غفارخان په ځوانۍ کې لا د هغه وخت په هندوستان کې پېژندل شوې شخړه وه، ده په خپل ولس نفوذ درلود، خبرې یې بې اغېزې نه وې، ځکه به د مهمو مسایلو په اړه مشورو ته ورغوښتل کیده. دی ځلرویشت کلن و چې د دېوبند له دارالعلومه د شېخ الهند مولوي حسن خط ورغی، دی یې ډهلي ته غوښتی و. غفار خان دارالعلوم ته ورغی، هلته نور د باور وړ ازادي غوښتونکي عالمان هم موجود وو.

دوی د حکومت پر ضد وسله واله مبارزه غوښته، دوی د دوو مرکزونو په جوړېدو سره سلا شول، یو په هندوستان کې او بل په ازادو قبایلو کې. له همدې ځایونو به د حکومت پر ضد منظمې جګړې کېدې.

تر دې مخکې هم د حکومت او قبایلو تر مینځ خال خال نښتې شوې وې، خو دې جګړو کومه ګټه نه کوله، یو رهبر یې نه درلود، هر قوم په خپل سر و، که به مومندو حمله وکړه، نو وزیر او مسود به کرار ناست ول، که به وزیرو جګړه پیل کړه مومندو او افریدیو به ویل چې په موږ یې څه! حکومت پوه شه، وزیر او مسود پوه شه. ځکه به حکومت ډېر تاوان نه لید او پاڅون کونکي به یې په اسانه وځپل. غفارخان دا حال نه غوښت. ده به ویل چې ټول پښتانه باید یوه واحده رهبري ولري او یوځایي پر حکومت ورشي. ځکه نو په پیل کې د یوه مرکز جوړېدل ضرور و.

په قبایلو کې یې د بونیر سیمه ښه وګڼله، هلته ځینې کسان د حکومت پر ضد جنګیدل، خو دا ځای د ډېرو نورو نه وو خوښ. فیصله وشوه چې په قبایلو کې به کومه بله د کار سیمه ټاکل کېږي. همدا مسؤلیت عبدالغفارخان او د هغه ملګري مولانا فضل محمود مخفي ته ور وسپارل شو. مخفي د دېوبند له دیني مدرسې فارغ و، له لیکوالي او شاعري سره یې جوړه وه، ده په پښتو ژبه هم شعرونه لیکل، شعرونو یې په خلکو کې د ازادۍ جذبې را پارولې:

خدایه داسې وخت به راشي چې زموږ جهاز به هم وي

لکه باز به په هوا شي په ترخو اوبو به سم وي
تار به هم زموږ پیدا شي، رېل به هم په هر قدم وي
زه به خپل جرنېل پسې وم، په دښمن به دو کول وي

دوی دواړه قبایلو ته لاړل، هلته ډېر وګرځېدل، میاشتې یې تیرې کړې، لوږې او سختې یې ولیدې، په غرونو او درو کې یې پلې مزلونه وکړل، له خلکو سره وغږېدل، ځینې کسان د حکومت خلاف ول، خو ځینې نورو خانانو ته د انګرېز له خوا پخه تنخوا ورتله، انګرېز یې نه خوابدی کاوه.

سم ځای یې ونه موند. بېرته خپل کلي ته لاړل.

هندوان، سیکان او مسلمانان غلي پراته وو، دوی د حکومت خلاف د راپورته کېدا زړه نه درلود، منلې یې وه چې انګرېز ماتې نه مني او د دوی پر ضد را پورته کېدا یې خپله تباهي ده. په ځینو سیمو کې به خال خال کسان راپورته شول، لنډ وخت به یې مبارزه وکړه، خو په هماغه لومړیو کې به وځپل شول.

حکومت له سختې کار اخیست، هغه څوک د ترحم وړ نه ول چې دوی یې نه منل، ډېر ژر به یې پانسي کړل.

خو کله چې ترکیه په لومړۍ نړیواله جګړه کې ښکېله شوه، نو په هندوستان کې احساسات را وپارېدل. دوه علته وو، یو خو ترکیه مسلمان هېواد و او بل فکر کېده چې که المان، بریتانیې ته ماتې ورکړي نو انګرېزان به په هند کې کمزوري شي او هندیان به یې هم له ظلمه خلاصی ومومي.

دوی د برېتانیې او المان مقابلې ته ماتله وو، جرمنیانو ته یې دعاوې کولې او د انګرېز ماتې یې غوښته.

د دیني عالمانو یوازې قبایلي سیمو ته تمه وه، دوی پوهېدل چې د حکومت پر ضد یوازې پښتانه درېدای شي او پښتانه باید په احساساتو راولي، له همدې سببه یې قبایلي سیمو ته ځینې ملایان ور ولېږل، هغوی به په پټه د حکومت پر ضد تبلیغ کاوه او خلک به یې جهاد ته هڅول.

ځوان عبدالغفارخان بونیر ته لاړ او هلته یې له هغو دیني عالمانو سره وکتل چې د حکومت پر ضد یې مقابله کوله. هلته ځینو کسانو وسله را واخیسته، خو حکومت هوښیار و، د خپلو خانانو او ملکانو په مرسته یې په خلکو کې تفرقه واچوله، دوی انګرېزان اهل الکتاب وګڼل، ډېرو خلکو له جګړې لاس واخیست، هغوی چې وجنګېدل وځپل شول.

حکومت ته بانه په لاس ورغله، د بونیر ټولې مدرسې او مکتبونه یې بند کړل. ان هغه کسان یې هم زندانونو ته واچول چې له دې مدرسو او مکتبونو سره یې مالي مرسته کوله.

ملایان ووېرېدل، فتواوې غلې شوې.

عبدالغفارخان نیت درلود چې کابل ته لاړ شي او له امیر حبیب الله خانه مرسته وغواړي. مور یې ونه منله، پاتې شو.

په لومړۍ نړیواله جګړه کې په اروپا کې میلیونونه کسان ووژل شول، کلي او ښارونه وران شول او یوه بله لویه ستونزه دا وه چې په ټوله اروپا کې د وبا

ناروغي ګډه شوه. دا ناروغي هندوستان او قبايلو ته هم راغله، ډېر خلک يې ووژل. ځينې کلي يې له يوه سره ختم کړل، ان دومره څوک نه وو پاتې چې جسدونه تر خاورو لاندې کړي. له همدې سببه د جهاد پاتې احساسات هم مړه شول او خلک د وير پر ټغر کېناستل.

دې ناروغي د باچاخان کوچينی زوی (غني خان) او مېرمن هم ونيول، کوچينی غني بچ شو، خو ځوانه مور يې مړه شوه. دا وخت عبدالغفارخان درې اولادونه لرل. غني پينځه کلن و، ولي درې کلن او يوې خور يې يوازې يو کال عمر درلود.

د عبدالغفارخان د ميرمنې مړينې د هغه زړه مات کړ، دی به ډېر وخت چورتي و، وړو اولادونو ته به يې زړه خوړ، خو بيا به يې هم ټوله ورځ قبرونه کېندل، له نورو ژونديو سره به يې پر مړو خاورې اړولې.

ناروغي ختمه شوه، جرمني ماته وخوړه، انګرېز لا زړور شو.

**لومړی زندان:**

کله چې انګرېزان له نړيوالې جګړې بې غمه شول، په هندوستان کې يې بېرته خپل قوانين سخت کړل. حکومت نوی قانون را وايست، په دې قانون کې ماليه ډېره شوې وه، د ولس لږه فردي ازادي هم له مينځه لاړه او خلک يې لا مايوسه کړل.

په هندوستان کې مهاتماګاندي مظاهرې را وايستې، خلک لارو کوڅو ته را ووتل، خو حکومت ټوپکې ورته ونيولې، سلګونه بې وسلې انسانان يې ورېبل. په پښتون مېشتو سيمو کې هم ځينو کسانو مظاهره وکړه، مظاهره بې نظمه وه، مشر يې نه درلود، خلکو عبدالغفارخان خپل مشر وټاکه. په همدې مظاهره کې ويناوې وشوې، په خلکو کې د حکومت پر ضد د راپورته کېدو جذبه پيدا شوه.

عبدالغفارخان په کليو وګرځېد، له خانانو او ملکانو سره يې خبرې وکړې، عام ولس يې مظاهرو ته را وباله، دوهمه مظاهره ډېره لويه وه، کابو يولک کسان راوتلي ول، دوی د حکومت د سختو قوانينو پر ضد چيغې وهلې.

دې مظاهرې حکومت ته غوسه ور وسته، عبدالغفارخان يې په خپل کور کې ونيو او لاس تړلی يې اول مردان، وروسته پېښور ته بوت. هلته دوولسو انګرېزانو پوښتنې ترې پيل کړې، دی يې د حکومت پر ضد په بغاوت تورن کړ، پښو او لاسونو ته يې زولنې ور واچولې او بنديخانې ته يې ولېږه.

حکومت يوازې د عبدالغفارخان په نيولو قانع نه شو، حکومتي کسان د ده کلي ته ورغلل، د عبدالغفارخان پلار او څو نور کليوال يې هم په بنديخانه کې واچول. کله چې يې په زندان کې خپل پلار وليد، نو پلار يې خوشاله شو، ځکه په کلي کې اوازه ګډه وه چې عبدالغفار خان يې د نيولو په اوله ورځ اعدام کړی دی.

دوی يې لاس تړلي د چارسدې زندان ته بوتلل، درې مياشتې وروسته يې د ده پلار او ځينې نور کسان پرېښودل، خو دی په بنديخانه کې پاتې شو.
وروسته يې بېرته پېښور ته پلی بوت، د باچا خان لاسونه اوپښې په ځنځيرونو بند وو، خو بيا يې هم له چهارسدې تر پېښوره اتلس کيلو متره پلی مزل وکړ، په لاره کې يې خويندې او د کورنۍ نور غړي وليدل، هغوی پوليسو ته پيسې ورکړې وې چې د عبدالغفارخان ليدو ته يې پرېږدي.
د پېښور په زندان کې به نورو زندانيانو ته کله کله له کورونو ډوډۍ راتله، خو دی سياسي بندي و، ده به د بنديخانې ډوډۍ خوړه، د بنديخانې ډوډۍ د خوړلو نه وه.
عبدالغفارخان شپږ مياشتې په زندان کې تېرې کړې، خوشې شو.
وخت ووت، د عبدالغفارخان رنګ بېرته را وګرځېد، ده په ۱۹۱۹ م کال کې دوهم واده وکړ. بيا ونيول شو، دا وار زندان لنډ و، بېرته يې پرېښود.

**مهاجرت:**

په ۱۹۲۰م کال کې په ډهلي کې لويه مظاهره راووته، دې مظاهرې تر تېرو هغو فرق درلود، خلکو تر خپلو سرونو کفنونه تاو کړي وو.
عبدالغفارخان هم په همدې مظاهره کې ګډون وکړ. په همدې وخت کې يوه هندي جذباتي ځوان ناره کړه او خلک يې مهاجرت ته را وبلل، خلکو ورسره ومنله، ډېرو مسلمانانو د پېښور خواته مخه کړه، دوی کابل ته تلل.

دا وخت امیر حبیب الله خان په لغمان کې وژل شوی و او زوی یې امان الله خان پاچاهي کوله.

د کابل خواته زرگونه کورنۍ ور ماتې شوې، انگرېز دې ډله ایز مهاجرت ته خوشاله و، د خلکو د تگ مخه یې نه نېوله، ځکه دوی فکر کاوه چې د دومره ډېرو خلکو ورتگ به د ځایي اوسېدونکو او مهاجرو تر مینځ ستونزې پیدا کړي، مهاجر به بېرته راشي، او له ځان سره به هندوستان ته د امان الله خان او افغانانو د نه همکارۍ کیسې راوړي. ځکه هغه وخت امان الله خان له انگلیسانو نوې ازادي اخیستې وه او دا ځوان پاچا په هندوستان کې ډېرو خلکو ته د خپلواکۍ الهام و. انگرېز غوښتل چې په هندوستان کې د امان الله خان روښانه انځور تت او له خلکو د ازادي روحیه واخلي. خو ځایي اوسېدونکو ورغلیو کورنیو ته مینه ورکړه، خپل خواړه او د خپلو کورونو کوټې یې ورسره وویشلې.

عبدالغفارخان هم له خپلې کورنۍ سره کابل ته لاړ. ځوان پاچا امان الله خان یې تود هرکلی وکړ، خان ته یې وویل چې تا او ورغلیو خلکو ته په مختلفو سیمو کې ځمکې درکوم، ابادې یې کړئ او دلته ژوند وکړئ.

د انگرېز تمه وخته، ځکه پاچا او افغان ولس ورغلیو مهاجرینو ته د وروڼو په سترگه وکتل، دا اوازې هندوستان ته راتلې او له امان الله خان سره مېنه لا ډېرېدله. ځکه انگرېز په ورغلیو خلکو کې خپلو جاسوسانو ته وویل چې په

خلکو کې د بېرته تګ تبلیغ وکړي. جاسوسانو به ورغلیو خلکو ته ویل چې خپلې ځمکې او خپل کلي مو ښه ول. ډېرې کورنۍ بېرته لاړې.

انګرېزان هماغه وخت پوه شول چې امان الله خان یې په ګټه نه دی، ان په هند کې هم جنجال ورته جوړولی شي، انګرېز له ده سره کینه واخیسته او د ورکولو په فکر کې یې شول.

عبدالغفارخان به کله کله امان الله خان ته ورته، له ده سره به یې د قبایلو د ازادي په اړه خبرې کولې. امان الله خان ورته وویل چې نالوستي خلک په سخته خپلواکي اخلي، که یې واخلي هم، نه یې شي ساتلی، په قبایلو کې مکتبونه جوړ که.

دا خبره د خان خوښه شوه، بېرته باجوړ ته لاړ. ده باید په کراره کار کړی وای. ځکه ځو کلنې مبارزې پوهولی و چې انقلاب د منډې کار نه دی، انقلاب عمل او پوهه غواړي، د کار خلک او عالمانو ته ضرورت لري، په قبایلو کې داسې خلک کم وو.

**عدم تشدد:**

غفارخان په (زما ژوند او جدوجهد) کې لیکلي:

" ما پوره پینځلس کاله مبارزه وکړه، احساساتي وم، فکر مې کاوه چې له زوره کار اخیستل مو په گټه ده، زور مو وواهه، له حکومت سره مو جګړې وکړې، نتیجه یې ورنه کړه، زه یوې پایلې ته ورسېدم، زور په هغو خلکو کې ښه دی چې یو لاس وي، یو مشر ولري، یوه خبره یې، خبره وي، دلته خو هر خان او هر ملک ځانته پاچا و، خو دې وړو پاچاهانو دومره زور نه درلود چې په یوازې ځان انگرېز ته ماتې ورکړي. فکر مې وکړ چې تشدد نتیجه نه لري، راځه، د عدم تشدد لار وازمایه."

غفارخان باور درلود چې د عدم تشدد مبارزه تر تشدد ډېره بریالۍ ده. ده تشدد په څو دلیلونو ناکام گاڼه، یو خو د ولس څو کلنې وسله والې مبارزې نتیجه نه وه ورکړې، بل حکومت هر راز وسلې، توپونه، طیارې او نور نظامي امکانات درلودل، عام ولس نه درلودل، ځکه په هره جگړه کې ولس ډېر تاوان لید او د کامیابي چانس یې کم و.

غفار خان ویل چې حاکم پر خلکو حاکم دی، که یې خلک ونه غواړي، نو پر خلکو حاکمیت نه شي کولای. ده به خلکو ته ویل چې د ټوپک پر ځای له حکومت سره راشه درشه ختمه کړئ، د انگریزانو تولیدات مه اخلئ، له دوی سره هېڅ تجارتي راکړه ورکړه مه کوئ، مالیه مه ورکوئ، دولتي محکمو او دفترونو ته مه ورځئ او خپلې ستونزې د قومي جرگو له لارې حل کوئ، په

حکومت کې کار مه کوئ، د خپلو حقه غوښتنو له پاره د خشونت پر ځای سوله ایزې مظاهرې راوباسئ...کله چې له ولسه د حکومت ګټه کمه یا ختمه شي، نو حکومت په خپله کمزوری کېږي او د ولس غوښتنې مني.

خو په دې خبرو نالوستی ولس په اسانۍ نه پوهېده، غفارخان باید د ولس د پوهېدو له پاره مکتبونه جوړ کړي وای، ځکه بېرته خپل کلي ته لاړ، ده د هغو مکتبونو د بیا پرانستلو مبارزه پیل کړه چې حکومت بند کړي وو.

غفارخان په ۱۹۲۱م کال کې په اتمانزو کې نسبتاً لوی مکتب جوړ کړ. تکړه استادان یې ورته ونیول، په خپله به یې هم زده کونکو ته درس وایه. دی به په کلیو ګرځېده، خلک به یې عدم تشدد، پوهې او زده کړې ته رابلل.

دی به په میاشتو میاشتو له خپل کوره ورک و، په ولس به ګرځېده، جوماتونوته به ورته، د هر کور دروازه به یې ورټکوله، یو کلی یې هم نه هېراوه.

یوه ورځ یوه کلي ته لاړ، له خلکو سره له غږېدا وروسته یې لیرې یوې هسکې غونډۍ ته ور پام شو، د یوه کور له دودکشه لوګی پورته کېده. غفارخان پوښتنه وکړه، په هماغه کور کې یوازې یو کس اوسېده، دا کس د غفارخان د خبرو په وخت کې نه و حاضر، دی هماغه کور ته ورغی، سړی یې ژوند ته راوباله.

غفارخان به کراچۍ، ډهلي، کلکتې او لاهور ته هم ته، هلته به یې په مختلفو غونډو کې ګډون کاوه. لوستي پښتانه به یې د عدم تشدد په فلسفه پوهول، له ده سره د ډېرو تعلیم یافته ځوانانو جوړه شوه.

عبدالغفارخان به له خلکو چندې را ټولولې، را ټولې کړې پیسې به یې د ولس په تعلیم لګولې.

له ده سره یوازې د ولس د تعلیم او له خشونته د راګرځولو فکر نه و، د هغوی د اقتصاد غم یې هم خوړ، هغه وخت پښتنو یوازې په ځمکو او مالدارۍ ګذاره کوله، خو ډېرو کمو کسانو دومره ځمکې او څاروي لرل چې د بل له احتیاجه خلاص وي، زیاتره خلک په ګېډه نه ول ماړه او ستونزمن ژوند یې درلود، خو بیا هم کسب او تجارت ښه نه ورته ښکارېدل، شرم یې ګڼل. عبدالغفارخان په اول ځل په اتمانزو کې د ګوړې منډیي جوړه کړه، په ده پورې به ډېرو خانانو خندل، ملنډې به یې پرې وهلې او پېغورونه به یې ورکول.

" ټولو پېغور راکاوه، ویل یې چې د پلار نیکه نوم ته دې ونه کتل، ګوړې خرڅوې. ما یوه ورځ ځینې خانان ملکان او کلیوال کور ته را وغوښتل. د منډیي حسابونه مې ور وښودل، ما په میاشت کې دومره ګټه کړې وه چې دوی په کال کې هم له خپلو ځمکو دومره پیسې نه وې اخیستې. دوی حیران وو، باید حیران شوي وای. ما د همدې حیرانۍ له پاره راغوښتي ول. دوی ته مې وویل چې د اقتصاد د ښه کېدو له پاره یوازې پر خپلو ځمکو او یوې غوا مه متکي کېږئ. کسب زده کړئ، تجارت وکړئ او روزي مو پراخه کړئ."

د عبدالغفارخان په برکت ځینو پښتنو تجارت پیل کړ، وړې کارخانې یې جوړې کړې، له دوی پرته څو نور بې وزله کاریګر هم په خېټو ماړه شول.

**درې کاله زندان:**

د ۱۹۲۱م کال په وروستۍ میاشت کې پولیس راغلل او عبدالغفارخان یې له مکتبه بوت. ده د مکتب په حویلي کې د فوټبال میدان جوړاوه.

لومړی یې د پېښور بندیخانې ته یووړ او له جنایتکارانو او جنایي بندیانو سره یې په یوه کوټه کې واچاوه. لس ورځې وروسته یې د پوښتنو له پاره ور وغوښت، د ده جرم هجرت او د مکتبونو جوړول وو.

قاضي درې کاله قید ورته ولیکه.

عبدالغفارخان په بند کې ډېرې سختې، لوږې او تندې وګاللې، ځای نه و، په اخوره کې یې پروړه هواره کړه، همالته به ویدېده، خو ده دې سختو ته نه کتل، هلته هم کرار نه وو ناست، زندانیان به یې په ژوند، نورو ته په احترام او د خپلواکۍ په ارزښت پوهول.

عبدالغفارخان دوې میاشتې د پېښور په بندیخانه کې و، وروسته یې د ډېره اسماعیل خان زندان ته ولېږه. هلته به ټوله ورځ درنې مېچنې ته ناست و، چینجن نخود او غنم به یې پرې وړه کول، همدا به زندانیانو ته پخېدل.

ده د مطالعې حق نه درلود، او کتابونه یې نه ورته را پرېښودل، خو کاغذ او قلم یې لرل، همالته یې خپلې خاطرې لیکلې.

عبدالغفارخان ناروغ شو، نور ناروغان به د زندان روغتون ته بېول کېدل، خو ده ډاکټر ونه لید. حال یې نور هم بد شو، ډاکټر یې بندیخانې ته ورته راووست، دوا یې ورکړه. خو ناروغي دومره ژوبل کړی و چې په یوه نیمه میاشت کې یې

کابو دوولس کیلو وزن کم شو، غاښونه یې خراب شول، ورک یې خوړینې شوې، وینې به ترې تلې.

دلته نورو بندیانو هم چندان ښه وضعیت نه درلود، گرمي وه، د بندیخانې نظافت ته پام نه کېده، بوی و، په زندان کې چټل لښتي تېر ول، په بندیانو کې ناروغي گډه شوه، د ورځې به څلور پینځه مړي وتل، خو هېچا هم سر نه پسې گرځاوه، د انگرېز حکومت و، قیدي انسان نه گڼل کېده.

د عبدالغفارخان ناروغي ډېره شوه، روغتون ته یې بوت، ښه شو.

دی بېرته زندان ته لاړ، هلته یو ډاکټر ورباندې مهربانه شو، عبدالغفارخان ته یې شیدې ور وړې، خو ده مننه ترې وکړه، ویې ویل چې دا د زندان د روغتون شیدې دي، د ناروغانو حق دی، زه یې نه شم څښلی.

ډاکټر حیران و، د ده با ایماني یې خوښه شوه، ورته ویې ویل چې له دې وروسته به له کوره ډوډۍ درته رالېږم، خو ده ونه منله، ډاکټر ته یې وویل چې اوس د زندان په ډوډۍ عادت شوی یم، څومره چې انسان خپل خواهشات کم کړي، په هماغه اندازه به ارامه وي.

دا خبره د زندان تر مشره ورسېده، راغی، عبدالغفارخان یې د غنمو له وړه کولو منعه کړ، ورته ویې ویل چې نور دا کار مه کوه، په زندان کې دوه ویشت سوه بندیان دي، نورو ته یې پرېږده، خو ده ورته وویل چې نه، زه خپله برخه کار پر نورو نه اچوم.

کله چې یې روغتیا ښه شوه، نو د ورځې به یې کارخانې ته بېوه، هلته به یې له نورو زندانیانو سره د لیکونو پاکټونه جوړول، ماښام به یې بېرته زندان ته راووست.

عبدالغفارخان په جېل کې هم له خپلو خلکو ښه خوله نه ده وهلې، وایي چې دلته هم خلک دوه ډلې وو، اوله ډله د پېښور او مردان اوسیدونکي ول، په دوهمه کې بنووال او کوهاټیان راتهول ول، دوی به تل جګړې سره کولې، په بندیانو کې واړه هلکان هم ول، زیاتره جګړې به یې د هلک پر سر وې.

عبدالغفارخان به له دوی سره کېناست، سمې لارې به یې ور ښودلې، خو دا کار د بندیخانې په مشرانو ښه ونه لګېد، دی یې په بندیخانه کې په بغاوت تورن کړ، ویې ویل چې ته بندیانو ته د ازادي درس ورکوې.

له هغې وروسته پیره پرې ودرېده، ده له نورو بندیانو سره د خبرو حق نه درلود.

عبدالغفارخان حتی له خپلې کورنۍ او دوستانو سره ملاقات هم نه شوی کولی، ځوک چې به ورته راغلل، د زندان له عمومي دروازې به ځواب شول.

دی یوازې و، له هېچا سره یې د خبرو اجازه نه درلوده، کله کله به یې زړه خوړل کېده، خو بېرته به یې ځان ته تسلي ورکړه، دخلکو ویښول په دومره تکلیف ارزېده.

څه وخت وروسته یې د دیره غازي خان بندیخانې ته بوت.

عبدالغفارخان یې د سیاسي بندیانو برخې ته ور ووست، هلته یې ځینې شناخته ملګري ولیدل، هغوی نورو ته ور معرفي کړ.

علدالغفارخان اوس يوازې په خپل کلي کې نوم نه درلود، اوازې يې په ټول هندوستان کې تيتې وې، هندوانو د سرحد ګاندي باله.

بنديان ورغلل، پښو او لاسونو ته ور لوېدلې کړۍ يې ور ماتې کړې. دابنديخانه يو څه ښه وه، بندي لمبېدلی شوای.

دی يې د هندوانو او سيکانو برخې ته ور ووست، هغوی ډېر جنجالونه نه لرل، جنګونه يې کم ول او ده ته يې احترام کاوه، خو خوب يې نه شو کولای. سيکان به نيمه شپه را پورته شول، وبه لمبېدل، په لوړ غږ به يې خپل عبادت پيل کړ، تر سهاره به يې نارې وهلې.

وروسته يې د زندان يوې بلې برخې ته بوتلو، دلته شپږ شپېته کسان ول، هندوان، سيکان او مسلمانان ګډ اوسېدل. ډوډۍ به يې هم يو ځای خوړه.

عبدالغفارخان دلته خوشاله و، ځکه په نزاکتونو پوه کسان ول، نور يې نه په تکليفول. ده به د ورځې وړۍ ورېشلې، د شپې به له نورو سره ناست و.

دلته ځو عقيدې موجودې وې، زياتره يې لوستې کسان وو، خبرې په اسانه ورسره کېدای شوای، په بنديانو کې د هندوانو او سيکانو ازادي غوښتونکي مشران هم ول. دوی به تر ناوخته د خلکو د راويښولو په اړه خبرې کولې، دا بحثونه ګټور وو، له پوهو خلکو ډېر څه زده کېدل.

عبدالغفارخان يې له هغه ځايه د لاهور بنديخانې ته بوت. دی يې له جنايي بنديانو سره واچاوه. د لاهور د جېل قوانين ډېر سخت وو، نه سمه ډوډۍ وه او

نه هم د اوسېدو ګذاره حاله ځای. دلته له عبدالغفارخانه نور سياسي بنديان خبر شول، هغوی له ده سره کتل غوښتل، خو اجازه يې ورنه کړه.

خو په سياسي بنديانو کې ډېر مشهور او زورور کسان او د کانګرس مهم غړي هم ول، د زندان مشر له دوی وېره درلوده، ځکه دوی له ژورناليستانو سره د خبرو حق درلود، په اخبارونو کې د زندان د مشر پر ضد شکايت د مشر په ګټه نه و، دوی د زندان مشر مجبور کړ چې عبدالغفارخان له جنايي بنديانو راوباسي او د سياسي بنديانو برخې ته يې ورولي.

عبدالغفارخان يې سياسي بنديانو ته ور ووست. دې بنديخانې يوه لويه احاطه درلوده، ګڼ بنديان د عبدالغفارخان ليدو ته ورغلل. هغه وخت د عبدالغفارخان وريو پړسوب کړی و، اوبه يې اخيستې وې، دردونه يې ډېر وو. ده ته د سياسي مشرانو په شناخت ډاکټر راغی، څو له علاجه وتلي غاښونه يې وايستل، نورو ته يې دوا ورکړه.

خو حکومت له بندي عبدالغفارخانه په زندان کې هم وېرېده، دی يې يو ځای نه پرېښوده، حکومت باور درلود چې دا سړی د قناعت داسې ژبه لري چې په زندانونو کې هم د حکومت دښمنان ډېرولی شي، بېرته يې د ډېره غازي خان بنديخانې ته ولېږه، خو هلته هم ترې ووېرېدل، لنډ وخت وروسته يې بيا د لاهور بنديخانې ته بوت. دا وار يې قيودات پرې سخت کړل.

دلته به ټولو بنديانو سهار او ماښام د بنديخانې په احاطه کې د ګرځېدو اجازه درلوده، خو عبدالغفارخان ته دا اجازه نه ورکول کېده. له نورو سره د ده نيم

ساعت گرځېدا هم د پرنګ له پاره خطرناکه وه، ده په دې لنډه موده کې هم د بندیانو ذهنتیوته ور اړولی شوای.

ببرته یې د دېره غازي خان بندیخانې ته ولېږه.

دی د دېره غازي خان په بندیخانه کې و چې یوه بل بندي یو اخبار ورته راووړ، په اخبار کې لیکل شوي و چې مور یې مړه شوې ده. د مور مرګ یې زړه مات کړ.

له هغه ځایه یې د میانوالې بندیخانې ته انتقال کړ. د دې بندیخانې مشر په ظاهره مهربانه انسان و، له عبدالغفارخان سره یې ښه روحیه کوله.

به بندیخانه کې یوازې یو څو مسلمانان وو، نوره بندیخانه له سیکانو او هندوانو ډکه وه. دلته د دوی خوراک ښه و، دوی د دېګ پخولو اجازه درلوده، خو وروسته مالومه شوه چې د زندان دا مشر هم هومره ښه نه دی، ده به د مسلمانانو او نورو تر مینځ تفرقه اچوله.

بندیان هم ساده خلک ول، هندو به له مسلمان سره ځکه وخوړل چې مسلمانانو ولې غوښه پخه کړې ده. سیک به خپل سیک ته څپېړې ونیولې چې وېښته یې ولې کم کړي دي.

عبدالغفارخان د سیکانو او هندوانو له مشرانو سره کېناست، دوی یې قانع کړل چې د دوی هدف لوی ( دهندوستان خپلواکي) دی، دا وړې خبرې یې لا تاواني کوي، دښمني راولي او له یو بله د بېلتون سبب ګرځي.

د میانوالي د بندیخانې یوه بله لویه ستونزه دا وه چې دلته به هر وخت د شګو طوفانونه راتلل، دوړې به وې، په یوه متري کې به دې څه نه لیدل، ان د زندان په کوټو کې به هم هېڅ نه ښکارېدل، سترګې، خوله، ځان، دېګ، کاسه، جامې، کوټه ، هر څه به له تودو شګو ډک وو.

دلته ګرمي ډېره وه، که به کومه ورځ شګې نه وې، نو د شګو ځای به میاشو ونیو، ملاریا او نورې ناروغۍ ډېرې وې.

د عبدالغفارخان صحت بیا خراب شو، خو ډاکټر نه و.

عبدالغفارخان درې کاله په مختلفو بندیخانو کې تیر کړل، لوږې، تندې او ناروغۍ یې وګاللې، ازاد شو او خپل کلي ته لاړ.

**ولسي محبوبیت:**

غفارخان چې کله له درې کلن زندانه خلاص شو، تر کور مخکې اول د کلي مکتب ته ورغی، زده کوونکي او ښوونکي مخې ته ورته را ووتل، دوی خوشاله وو، چیغې یې وهلې " فخر افغانه، په خیر راغلې له زندانه، مرحبا، مرحبا".

دا چیغې زورورې وې، تر نږدې کلیو ورسېدې، خلک خبر شول، مکتب ته راغلل، عبدالغفارخان یې په غېږ کې ونیو.

کور ته لاړ، په کورکې یې دومره ښځې راټولې وې چې د تېرېدو لار نه وه، ځینو یې له ډېرې خوشالي ژړل.

د لیرو کلیو اوسیدونکي خبر شول، د مېلمنو کوټه به له خلکو ډکه وه. له کوهاټ او بنو هم خلک راغلل، عبدالغفارخان به خبرې ورسره کولې، د زندان خبرې، د حکومت د ظلم خبرې، د تعلیم او ازادۍ خبرې.

ده په دریو کلونو کې ډېره اقتصادي ضربه لیدلې وه، حکومت یې د ګوړې منډیي بنده کړې وه، له کورنۍ یې تر اصلي مالیې څو چنده ډېره مالیه اخیستې وه.

عبدالغفارخان ته مېلمستاوې شروع شوې، خو ده به خلکو ته ویل چې په میلمستیاوو ډېر مصرف راځي، که زما خوشالي غواړئ، نو د مېلمستیا د لګښت نیمایي پیسې نغدې راکوئ. په همدې پیسو به په خپله ژبه یو اخبار راوباسم او که پاتې شوې، پر مکتب به یې ولګوم.

خو هغه وخت ډېر خلک د اخبار او خپلې ژبې په اهمیت نه پوهېدل.

دوی مېلمستیاوو ته تیار ول، خو د مېلمستیا نیمایي مصرف یې نه ورکاوه. ویل یې چې اخبار به څه وي او ګټه به یې څه وي. ده ته یوازې دریو کسانو نغدې پیسې ورکړې.

عبدالغفارخان له خلکو مننه وکړه، خو د هغوی پخه ډوډۍ یې ونه منله.

عبدالغفارخان ته د هغه د ازادېدو په مناسبت انجمن اصلاح افاغنه یوه لویه غونډه ونیوله، دې غونډې ته زرګونه کسان راغلل، په همدې غونډه کې یې د فخر افغان پاچاخان لقب ورکړ.

غفار خان په قبايلو وگرځېد، خلک يې وهڅول چې په خپلو سيمو کې مکتبونه جوړ کړي، ځينو خانانو ورسره ومنله، په خپلو کليو کې يې مکتبونه جوړ کړل. ده به له ديني عالمانو سره کتل، هغوی ته به يې د مکتبونو گټې بيانولې.

کوم کلي ته به چې ورغی، نو خلکو به بابا باله، خو ده به ورته ويل چې دا ستاسي مهرباني ده، خو تاسو همدې بابا گانو وخوړلی، په تيارو کې يې پرېښودی، نه، زه مو بابا نه يم، زه مو خدمت گار يم، د ولس خدمتگار هغه دی چې د ولس د خدمت له پاره مزد وا نه خلي او پر چا احسان وانه چوي، بلکې د ولس خدمت خپل مسوليت وگڼي.

په ولس کې د غفارخان محبوبيت دومره ډېر شو چې ځينو بزرگ باله، خو ده به ورته ويل چې نه، زه بزرگ نه يم، ستاسو غوندې عادي انسان يم، ماته مه ټيټېږئ، لاسنيوی مې مه کوئ، خبرې مې ومنئ. د غفارخان ملگري مولانا اکبر خادم به ورته ويل چې له خپلې بزرگي انکار مه کوه، دا خلک د بزرگ خبرې لا ښې مني، مکتبونه به جوړ کړي، خو ده ورته وويل چې زما هدف د ولس را وېښېدا، پوهه، انساني حقوق او ښه ژوند دی، د هدف له پاره بايد پاکه وسيله استعمال کړو، له ځان او خلکو سره بايد صادقه ووسو.

**د ولس په ژبه، د ولس له پاره لومړی اخبار:**

غفار خان په ۱۹۲٦ م کال کې حج ته لاړ.

د حج له مراسمو وروسته فلسطین، سوریې او عراق ته لاړ. هلته یې له دینی عالمانو سره ولیدل او له دوی سره یې د هندوستان او قبایلو د ازادي په اړه خبرې او مشورې وکړې.

ده له دې سفرونو یوه نتیجه واخیسته، ولس لا ویده و او ویده ولس به څنګه ازادي اخیسته!

کله چې بېرته خپل کلي ته لاړ، نو د ولس د راویښولو له پاره یې په خپله ژبه د (پښتون) په نوم یو اخبار را وایست. تر دې دمه په قبایلو کې په پښتو ژبه کې هېڅ هم نه و.

غفارخان د ولس د راوېښېدو له پاره د اخبار په اهمیت خبر و. اخبار د ولس پوهه لوړوله، په ولس کې لیکوالان پیدا کېدل او خلک یې وېښول، ژبې ته خدمت و، خو ولس لا له اخبار او د خپلې ژبې له اهمیته ناخبره و.

عبدالغفارخان لیکي:

" ما خپلو خلکو ته د دوی په خپله ژبه اخبار را وایست، دوی ته خپلې ژبې اهمیت نه درلود، خپله ژبه سپکه ورته ښکارېده، ځکه بدبخته وو، کوم قوم ته چې خپله ژبه سپکه ښکاره شي، نو دوی سپک شي او له کوم قومه چې خپله ژبه ورکه شي، دوی ورک شي."

ده یوه ټولنه درلوده، د عبدالغفارخان په غوښتنه دې ټولنې درې کاله مخکې لا هغه وخت چې دی په زندان کې و له حکومته د اخبار جواز غوښتی و، خو په درې کاله کې مختلفې بانې ورته کېدې، جواز یې نه ورکاوه. عبدالغفارخان

اوس له زندانه ازاد شوی و، دی په خپله په جواز پسې وگرځېد، جواز یې په سخته واخیست.

د پښتون لومړی اخبار په ۱۹۲۸م کال کې چاپ شو. دې اخبار په پیل کې دومره لوستونکي نه درلودل، خو وروسته مشهور شو، ډېر لوستونکي یې پیدا کړل، دا اخبار به کابل ته هم ته.

ده یوازې په اخبار اکتفا ونه کړه، له ټولنې سره وغږېد، دوی به وخت پر وخت مشاعرې جوړولې او د قبایلو له مختلفو سیمو به گڼ شاعران ورتلل. شاعرانو به اوس یوازې د خال، اوږدو سترگو او لنډې سپینې زنې په اړه شعرونه نه ویل، شعرونه یې انقلابي و، ولس یې وروری او یوالي ته راباله، تشدد یې نه غوښت او په دوی کې یې له تشدده پرته د خپلواکۍ جذبې را پارولې.

دې مشاعرو ته ښځې هم ورتلې او شعرونه به یې ویل.

دې ټولنې ولس ورو ورو وېښاوه، خو د ټولنې په مشرانو کې بې اتفاقي ولوېده، ځینو مشرانو استعفاوې وکړې، غونډې کمرنگې شوې.

دا وخت بله پېښه وشوه، حبیب الله کلکاني (د سقاو زوی) کابل ونیو.

**د امان الله خان د بیا پاچا کېدو له پاره د عبدالغفار خان هڅې:**

عبدالغفارخان پوهېده چې افغان وطن د تباهي په لور روان دی، ځکه یې د قبایلو مختلفو سیمو ته سفرونه وکړل، له خانانو، ملکانو او عام ولسه یې

وغوښتل چې د امان الله خان ملاتړ وکړي. له ده سره د پښتون اخبار هم د امان الله خان په ملاتړ ليکنې خپرولې، ګڼ خانان او ملکان په احساساتو راغلل او له امان الله خان سره يې درېدا وغوښته.

غفار خان وايي:

" په افغانانو کې ډېر پاچاهان تېر شول، لاکن د پښتنو نرو او ښځو چې څومره ډېره مينه له امان الله خان سره درلوده، له بل يوه پاچا سره يې هم نه درلوده. امان الله خان پر قبايلو ګران و او د ده په ماتې يې ژړل..."

امان الله خان کندهار ته تللی و، عبدالغفارخان غوښتل چې پاچا ووينې او د کابل د بيا نيولو له پاره مرسته ورسره وکړي، ځکه يې کندهار ته دتګ نيت وکړ، دی له خپلو څو ملګرو او قومي مشرانو سره کويټې ته لاړ چې له هغه ځايه کندهار ته لاړ شي، خو حکومت په کويټه کې ونيول او بېرته يې جيکب اباد ته ولېږل. جيکب اباد له بلوچستانه وتلې سيمه ده.

خو عبدالغفار خان د ماتې سړی نه و، سهار يې بيا د کويټې د رېل ټکټونه واخيستل، خو په سيوۍ کې انګريزانو ريل ودراوه او دوی يې ترې کښته کړل. انګريزانو ورته وويل چې ته هغه وخت کندهار ته تلی شې چې امان الله خان دې په خپله ور وغواړي.

عبدالغفارخان له هغه ځايه ډهلي ته لاړ، هلته يې له افغان کونسل سره وليدل، په تليفون کې له امان الله خان سره وغږېد. امان الله خان د ليدو ډاډ ورکړ.

دی بېرته پېښور ته لاړ، امان الله خان په خپله امضاه فرمان ورته راولېږه چې کندهار ته ورشي.

عبدالغفار خان تګ ته تیار شو، خو حکومت یې بیا مخه ونیوله، ورته ویې ویل د دوی اجازې ته دې ماتله شي.

وخت ووت، د سفر اجازه یې ور نه کړه.

دا وخت نادرخان له فرانسې پېښور ته ورسېد. عبدالغفارخان له نادر خان سره بلد و، دی یې له پخوا پېژانده، ورته ویې ویل چې کندهار ته لاړ شه او له امان الله خان سره د کابل په نیولو کې مرسته وکړه، خو نادر خان کندهار ته تګ نه غوښت. دی د نادر خان په نیت پوه شو، ورته ویې ویل چې ته له امان الله خان سره د مرستې په خاطر نه، بلکې د ځان د پاچا کېدو له پاره راغلی یې، خو نادر خان ژمنه ورسره وکړه چې دی یوازې د امان الله خان پاچاهي غواړي.

نادرخان ځائیو ته روان شو، خو تر تلو مخکې یې غفار خان ته وویل چې په ټل کې به سره وینو. غفار خان ټل ته ورغی، خو نادرخان له ټله تللی و. ده لیک پسې ور ولېږه، ورته ویې لیکل چې اوله وعده دې پوره نه کړه، په ټل کې راته ماتله نه شوې، دوهمه وعده دې هم په شک کې ده.

غفارخان مردان ته لاړ، هلته خبر ور ورسېد چې امان الله خان له کندهاره کویټې ته رسېدلی دی. غفار خان خفه شو. ده د افغانانو ابادي د امان الله خان په پاچاهي کې لیده.

امان الله خان بمبۍ ته لاړ، غفار خان له عبدالهادي داوي سره ليدو ته ورغی، هلته يې امان الله خان وليد، له هغه سره يې خبرې وکړې ، تشويق يې کړ چې تر خپله وسه مرسته درسره کوم، خو ته وطن مه پرېږده، بېرته لاړ شه او پاچاهي ونيسه، خو پاچا بې وسه شوی و، زړه يې مات و، ده له خپلو افغانانو سره جګړه نه غوښته.

نادرخان د ۱۹۲۹م کال په اکتوبر کې کابل ونيو، د سقاو زوی يې پانسي کړ. خپله پاچاهي يې اعلان کړه او په دې توګه يې له عبدالغفارخان سره دوهمه ژمنه هم ماته کړه.

**د خدايي خدمتګارانو تحريک:**

عبدالغفارخان د ۱۹۲۹م کال په اخير کې د قبايلو له ځينو مشرانو سره لاهور ته لاړ، هلته کانګريس لويه غونډه رابللې وه. دوی هم ګډون پکې وکړ. په غونډه کې په زرګونو نجونو او ښځو هم برخه اخيستې وه، عبدالغفارخان خپلو ملګرو ته وويل، هغه قوم ازادي اخيستی شي چې په ښځو کې يې د ازادي جذبې پيداشي.

کله چې بېرته قبايلو ته لاړ، نو ګڼ خلک يې راټول کړل، ورته ويې ويل چې د هندوانو ښځې تر موږ ښې دي، هغوی ويښې دي، موږ نارينه ويده يو . ده ښځو او نارينه وو ته د خپلې خاورې د مالکيت احساس ورکړ.

د عبدالغفارخان ازادي غوښتنې د ولس جذبې را وپارولې، له قبایلو خانان او ملکان ورغلل، خبرې وشوې، دوی پرېکړه وکړه چې نوی تحریک (خوځښت) به جوړوو.

مشرانو د دې تحریک د نوم په اړه خبرې وکړې، ډېر نومونه یې یاد کړل، خو د ټولو سلا پرې رانه غله. عبدالغفارخان (خدایي خدمتګاران ) نوم غوره ګاڼه، همدا نوم د ټولو خوښ شو.

دا یو اصلاحي او اخلاقي تحریک و او خپله اساسنامه یې لرله.

۱: هر خدایي خدمتګار به د خدای مخلوق ته ضرر نه رسوي، څه چې ځان ته غواړي، نورو ته به یې هم غواړي.

۲: خدایي خدمتګار به د چا غیبت نه کوي، بل ته به په سپکه نه ګوري او دروغ به نه وایي.

۳: خدایي خدمتګار به صابر وي، سوله به غواړي، د ظلم په مقابل کې به له اخلاقو کار اخلي او ظالم به له خشونته پرته، په خبرو پوهوي چې د بل له ازارولو لاس واخلي.

۴: هر خدایی خدمتګار به تربګنۍ او دښمنۍ نه کوي.

۵: خدایي خدمتګار به په ولس کې هغه رواجونه چې خلکو ته تاوان رسیږي پرېږدي او د دې رواجونو پر وړاندې به مبارزه کوي.

٦: هر خدایي خدمتګار به ساده ژوند کوي.

۷: خدایی خدمتګار به خپل حلال کسب کوي، بېکاره او تیارخوره به نه وي.

۸: خدايي خدمتګار به خپل ولس او وطن ته وفادار وي، د ولس او وطن له پاره به قرباني ته تيار وي.

۹:هر خدايي خدمتګار به د خپلې ډلې د اکثريت له خوا تاييد شوې فيصله منې او په هغې به عمل کوي.

په دې تحريک کې شموليت خپل شرايط لرل، نوي راغلي کس به قسم ايست چې تحريک او د تحريک اهدافو ته به صادق وي او کار به ورته کوي. تازه راغليو کسانو ته به څو ورځې درس ورکېده، د تحريک اصول به ورته تشريح کېدل او د تشدد پر ځای به مينه او همکاري ور زده کېدله. يوازې دا نه و، خدايی خدمتګارانو ته به د ټوکر اوبدل ور زده کېدل، له مختلفو تخمونو به يې د غوړو ايستل زده کول او د نظم، پاکوالي او دسپيلن په اړه به خبرې ورته کېدې.

ده به د تحريک غړي صبر ته رابلل، ويل به يې چې انقلاب د منډې کار نه دی، صبر به کوئ، څوک چې صابره نه وي، خدايی خدمتګار نه شي ترې جوړېدای.

غفارخان به ويل چې د ولس د بيداري له پاره داسې کسانو ته ضرورت دی چې بې غرضه، ولس دوسته او ديانتداره وي، خاص د خدای له پاره د خپلو خلکو خدمت وکړي او که په کوم قوم کې داسې کسان پيدا شول، نو هغه قوم وينښ بوله. ده به د تحريک له پاره همداسې صادق خلک غوښتل.

دوی په کلیو وگرځېدل، ډولونه یې را وایستل، هغه وخت ځینو ملایانو ډول بند کړی و. کوم کلي ته به چې ورغلل، نو کلیوال به د ډول غږ ته حیران شول، نر او ښځې به را ووتل، عبدالغفارخان به لنډه وینا ورته وکړه، وبه یې ویل چې اې ورونو اې خویندو! موږ خدایي خدمتگاران یو. خدای خدمت ته اړتیا نه لري، خو د خدای دبنده گانو خدمت، د خدای خدمت دی، ځکه راسره ودرېږئ او د خدای خدمت وکړئ....موږ تاسي ټول یو وجود او یوه وینه یو ، نو راځئ چې په گډه خپل ځانونه اصلاح کړو، تعلیم ته مخه کړو، بېځایه او تاواني رواجونه له مینځه یوسو او په سوله ایزه توگه خپله خاوره خپلواکه کړو.
تر ظلم لاندې کلیوال ورته خوشاله وو، د خدایي خدمتگارانو له تحریک سره یې د درېدا ژمنې کولې، نارینه، ښځې، واړه، زاړه به ټول ورسره روان شول. خو دا کار په ځینو ملایانو ښه ونه لگېد، عبدالغفارخان یې دجال وگاڼه، ویې ویل چې په دجال پسې به نر او ښځې روان وي.
ډېرو خلکو په تحریک کې د شمولیت غوښتنه کوله، ده به شرط ورته کېښود، ویل به یې چې که له موږ سره درېږئ، نو لوږې، تندې، بندیخانې او سختې به گالئ. خلک د ازادي له پاره دې کړاوونو ته تیار ول.
د خدایي خدمتگارانو ډله ورو ورو لویېدله. په لنډ وخت کې یې د فعاله غړیو شمېر تر یولکو شلو زرو کسانو واوښت. دوی صاف خلک ول، نه یې تنخوا درلوده او نه کوم بل مادي امتیاز، خپل مصارف به یې کول، لوږې تندې او بندیخانې به یې تېرولې، هدف یې د ولس را وېښېدا وه.

دوی هېڅوخت د خشونت خبرې نه کولې. عبدالغفارخان باور درلود چې عدم تشدد تر تشدد لوی طاقت دی. یوازې یو توپیر لري، تشدد ټوپک غوښت، خو عدم تشدد تبلیغ او د ولس را ویښېدا. ویښ ولس تر ټوپکو غښتلی و.

عبدالغفارخان به ویل چې خدمت داسې نه کېږي چې خدمت کونکي دي کرار ناست وي او خلک دي دوی ته ورځي، نه، خدمت منډې غواړي، سترې غواړي، لوږه او تنده غواړي، څوک چې خدمت کوي، هغوی باید ولس ته ورشي. ځکه نو غفار خان  او د هغه ملګرو خوب نه درلود، شپه او ورځ به یې سترې سفرونه کول، دوی به د ورځې نهو، لسو کلیو ته تلل، خلک به یې ژوند ته رابلل.

د تحریک غړو به سپینې خامتا جامې اغوستې وې، خو ګرمي وه، دا جامې ژر خیرنېدې، په سفرونو کې یې مینځل هم سخت و. یوه ورځ یې ملګرو ورته وویل چې سپینو جامو ته به کوم بل رنګ ورکړو، ده ومنله، کوم یوه خپل کمیس په سره رنګ ورنګاوه، د نورو خوښ شو، ټولو خپلو جامو ته سور رنګ ورکړ.

له هغه وروسته به خدایي خدمتګارانو سور رنګ جامې اغوستې او په (سرخپوشانو) مشهور شول، خو حکومت اوازې واچولې چې خدایي خدمتګاران بلشویکان دي، د هغوی (روسانو) بیرغ سور دی، دوی هم سرې جامې اغوندي.

تحریک په اتمانزو کې د خدايي خدمتګارانو د تحریک په نوم دفتر جوړ کړ. ولس ور مات شو، دفتر ته به ورتلل، داسې خبرې به يې اورېدې چې د دوی په خير وې.

دې تحریک د پښتنو په زړونو کې دومره ځای ونيو چې ان په سنتي، قبايلي ټولنه کې يې ښځو او ځوانو نجونو هم غړيتوب واخيست. تحريک د پښتون اخبار، مجله کړه.

په دې مجله کې به د غفارخان خبرې هم راتلې، ده خلک وروری، مينې او همکارۍ ته رابلل، له خشونته يې راګرځول، ژوند يې ور زده کاوه، ويل به يې چې جبري ودونه پرېږدئ، د هلک او نجلۍ نظر واخلی او په بدو کې نجونې مه ورکوئ.

ده به د ښځو حقوق يادول، ويل به يې چې په اسلام کې دا نه دي ليکلي چې نارينه تر ښځې لوی دی، بلکې لويي په عمل کې ده. په دې ملک کې ښځې هم بايد د نارينه وو غوندي يو ډول حقوق لري. ده به قوم ته پيغام ورکاوه چې که د کوم قوم ښځې بيداره شي او د ملک د ازادۍ له پاره ملا وتړي، نو هماغه قوم بريالی دی. دی په پښتنو کې لومړنی کس و چې د ښځو د حقوقو له پاره يې داسې خبرې کولې چې تر ده مخکې بل چا نه وې کړې.

په هر کلي کې به يوې يا دوو لوستو نجونو خپلې نورې کليوالې راټولې کړې، همدا مجله به يې ورته لوستله.

خو حکومت کرار نه و ناست. دوی د دې تحریک ختمول غوښتل، ځکه یې د خپلو تنخوا خورو په مرسته په خدایي خدمتګارانو پسې منفي تبلیغ پیل کړ، خو دې تحریک په زړونو کې ځای نیولی و، خلکو باور پرې درلود او د نورو خبرې هوایي ورته ښکارېدې. د برتانوي هند حکومت ځیني کسان ور ولېږل چې له دې تحریکه لاس واخله. خو غفار خان ورته وویل چې خدایي خدمتګاران یوازې د ولس اصلاح کېدل غواړي، لوی هدف یې په خلکو کې د بدو رواجونو له مینځه وړل، د خلکو اقتصاد ښه کول او خپلمنځي دښمني لرې کول دي. ده وویل چې دا ډول تحریکونه هندوان او سیکان هم لري، موږ په خپلو خلکو کې مینه او زړه سوی پیاوړی کوو. که ژوند ته رابلل جرم وي، نو ولې هندوان او سیکانو ته څه نه ویل کېږي.

خدایي خدمتګارانو په ۱۹۳۰م کال کې په اتمانزو کې یوه لویه جلسه جوړه کړه. د جلسې نوم و (جنګ د ازادۍ له همیشه ځلمي وتلي دي)

حکومت ووېرېد، پر خانانو او ملکانو یې فشار راووړ چې د دې غونډې مخه ونیسي. خو هغه وخت ډېرو خانانو او ملکانو د تحریک غړیتوب درلود، زیاترو یې له دې غونډې پلوي وکړه. دې جلسې ته له ټولې صوبې زرګونه، ښځې او نارینه ورغلل.

عبدالغفارخان بیا ونیول شو، قهرجن خلک د هغه په پلوي را ووتل، دوی له خشونته کار اخیست خو د غفار خان مشر ورور خان صاحب ورته وویل چې د خدایي خدمتګارانو په تحریک کې خشونت نشته، په سړه سینه به مبارزه کوو.

غفار خان یې د گجرات بندیخانې ته بوت.

پولیسو د خدايي خدمتگارانو د سر کسان هم ونیول. مظاهرې را ووتې، حکومت بې وسلې خلک وویشتل. حکومت اتمانزو ته هم ورغی، د تحریک مرکزي دفتر ته یې اور ور واچاوه. دوی کورونه تلاشي کړل، د کار شیان یې ترې یووړل.

حکومت کلي محاصره کړل، هېچا له کوره د وتلو حق نه درلود، څاروي وږي ولاړ وو، کوم څاروي چې به له ډېرې تندې پړی پرې کړ او سیند ته به د اوبو څښلو له پاره لاړ، ویشتل کېده به. محاصرې یو ویشت ورځې دوام وکړ، ان جوماتونه هم تش ول.

په همدې وخت کې په یوه کلي کې یو انگرېز ووژل شو. حکومت پوځونه راوستل، ښځې او ماشومان یې تر تېغ تېر کړل.

په کوهاټ کې یې د خدايي خدمتگارانو پر غونډه دزې وکړې، ځینې یې ووژل، ځیني یې ټپیان کړل. په نورو سیمو کې هم همدا حال و، د خدایی خدمتگارانو د تحریک د ډېرو غړو کورونه یې ور وسوځول.

همدې ظلم ولس لا ویښ کړ، په زرگونو ځوانانو د تحریک غړیتوب واخیست، سرې جامې یې واغوستې او په مظاهرو را ووتل. ځای ځای د عدم تشدد شعار تر پښو لاندې شو او جگړې وشوې. دا جگړې تر وزیرو او اپریدو هم ورسېدې. ځکه تحریک په ټولو قبایلو کې ریښې کړې وې.

عبدالغفارخان له زندانه د کانگریس غړو ته احوال ور ولېږه چې د ولس ملاتړ وکړي. کانگریس له حکومت سره وغږېد، ویې ویل چې خدایي خدمتگاران خو یوازې د خپلو خلکو تعلیم او وېښېدا غواړي او په قانون کې په دې اړه هېڅ ممانعت نشته، نو تاسې ولې پر دوی ظلم کوئ؟! خو حکومت ته د ولس ویښېدا تر هر څه تاواني وه.

عبدالغفارخان ته به په بند کې د خدایي خدمتگارانو د تحریک ځینې مشران ورتلل، ده به د هغوی په خوله خلکو ته پیغام ورلېږه چې مظاهرو ته دوام ورکړئ او خپل حق وغواړئ، خو وروسته هېڅوک له ده سره د ملاقات حق نه درلود.

په بندیخانه کې د پنجاب او ډهلي لوی سیاسیون هم بندیان وو، عبدالغفارخان به د هغوی په مرسته خپل پیغامونه له زندانه بهر لیږل او د ده خبرې به په مختلفو اخبارونو کې چاپېدې.

ده ته به په وخت په وخت د کانگریس ځینې مهم مشران ورتلل، ورته ویل به یې چې مهاتما گاندي یې د خلاصون هڅې کوي. د دوی او کانگریس اهداف مشترک وو، یو لاس ول، دواړو تاوتریخوالی نه غوښت او د عدم تشدد مبارزه یې گټوره گڼله.

گاندي په خپله انگرېز ته ورغی او له حکومته یې د عبدالغفارخان د خلاصولو غوښتنه وکړه. انگریزانو یې خبره ومنله، ځکه انگریزانو دا وخت له کانگریس سره سوله کړې وه او گاندي یې نه خوابدی کاوه.

کله چې عبدالغفارخان له بندیخانې ووت نو زرګونه مسلمانان، سیکان او هندوان د زندان تر مخ ولاړ ول. دوی د عبدالغفارخان په ازادېدو خوشالي کوله.

دې سړي لویه حوصله درلوده، له زندانه مستقیم لاهور ته لاړ او هلته یې د حکومت پر ضد په مظاهره کې ګډون وکړ. وروسته یې قبایلي سیمو ته مخه کړه او هغو کورنیو ته فاتحې ته ورغی چې د کورنۍ غړي او خپلوان یې حکومت ویشتلي و.

**نه ستړی کېدونکی انسان:**

عبدالغفارخان کرار نه کېناسته، ده ته وخت ارزښت درلود، ځکه پېښور، مردان، بنو او دېره اسماعیل خان ته لاړ. له خلکو سره یې خبرې وکړې. خو ده د هندوانو او سیکانو په غونډو کې هم برخه اخیسته، ویناوې یې کولې او هغوی یې پر ولس د حکومت له ظلمه خبرول.

دی له خپلو یو څلوېښت ملګرو سره د کانګریس په کلنۍ غونډه کې د ګډون له پاره کراچي ته لاړ. په کراچۍ کې چې کله له رېله کښته شول نو ګڼ پښتانه، هندوان، سیکان او ځایي مسلمانان یې هر کلي ته راغلي وو.

دوی سرې جامې اغوستې وې او ډولونه یې وهل. ځینې سیکانو ګیله وکړه، هغوی ډولونه نه غوښتل، ځکه دوې ورځې مخکې حکومت د سیکانو لوی مشر بګهت سینګ اعدام کړی و. خو د بګهت سینګ پلار راغی، هغه خپلو سیکانو

ته وویل چې زوی یې د وطن د ازادۍ له پاره پانسي شو، دی مړ نه دی، ژوندی دی، تر دې بله خوښي نه شته. ډولونه باید ووهل شي.

دوی یې د کانګریس کمپ ته بوتلل. زرګونه هندوان، سیکان او مسلمانان یې لیدو ته ورغلل.

دا کلنۍ غونډه ډېره لویه وه، د ټول هندوستان له مختلفو سیمو ګڼ خلک راغلي وو. جواهر لعل نهرو غفار خان ته کمپ ته ورغی، وروسته دواړو په غونډه کې د ازادي په اړه خبرې وکړې.

دې هلته د جمعیت علمای هند کلنۍ جلسې ته هم ورغی. وروسته یې د هندوستان مختلفو برخو ته مخه کړه. اول بمبۍ ته لاړ، بیا ډهلي ته ورغلو، بیا یې د هندوستان ځینې نورې سیمې ولیدې. ده به هر ځای له ظلمه د خلاصون خبرې کولې.

عبدالغفارخان له ګاندي سره امرتسر ته لاړ. دوی ته به د رېل په هره ایستګاه کې زرګونه خلک ولاړ ول.

غفار خان خپل تحریک د کانګریس برخه وګڼله.

انګرېز نور هم ووېرېد. دوی په خپلو اخبارونو کې د خدایي خدمتګارانو پر ضد تبلیغاتو ته زور ورکړ چې دا تحریک له کانګریس سره نه شې یو ځای کېدای، د کانګریس خلاف دی، ځکه کانګرس تاوتریخوالی نه غواړي، خو پښتون به په سخته له تشدده راګرځوې، خو چندان نتیجه یې ورنه کړه، ځکه هندوان پوهېدلي وو چې تحریک هم د دوی غوندې له تشدده پرته ازادي غواړي.

عبدالغفارخان په کوهاټ کې و چې د ګاندي لیک ور ورسېد، دی یې باردولۍ ته ور غوښتی و. عبدالغفارخان ورغی، ګانډي ورته وویل چې احتیاط کوه، انګرېز دې همداسې نه پرېږدي. دی د ګاندي په غوښتنه د یو څه وخت له پاره همالته پاته شو. دا ځای تر یوه حده له خطره وتلی و. خو میاشت لا نه وه وتلې چې د عبدالغفارخان زړه تنګ شو، ده خپلو خلکو ته خدمت او په خپل ولس کې ګرځېدا غوښته، خطر یې ومانه، بېرته خپل کلي ته لاړ.

هلته حکومت په خپل کور کې نظر بند کړ، خو دې کار کومه ګټه ونه کړه، حکومت د زرګونو خلکو مخه نه شوای نیولی، دی له کوره نه شوای راوتلی، خو خلک کور ته ورتلل.

غفارخان بېرته په مختلفو سیمو ګرځېدا پیل کړه. خو حکومت بانې غوښتې، ده ته به په لوی سړک کې ودرېدل، ورته ویل به یې چې ته په دې عمومي لار نه شې تلای.

ملګري به یې په جوش راغلل، خو عبدالغفارخان به ارامي ته را وبلل، بېرته به وګرځېد، لاره به یې بدله کړه، حکومت به لا اور واخیست.

په همدې وخت کې په دیره اسماعیل خان کې د ځایي هندوانو او مسلمانانو تر مینځ جګړه وشوه، په دې جګړه کې هندوان ډېر تاواني شول. انګرېزانو په خپلو اخبارونو کې همدا جګړه نوره هم وپړسوله. ویل یې چې له هندوانو سره په جګړه کې زیاتره مسلمانان د خدایي خدمتګارانو غړي ول. دا تحریک دروغ

وایي، دوی په ظاهره د عدم تشدد شعارونه ورکوي، خو په اصل کې تر دوی خشن او جنجالي خلک نه شته.

د انګرېز دې خبرو د کانګرس په ځینو غړو اغېز وکړ، ګاندي له عبدالغفارخانه هیله وکړه چې شملې ته ورشي. دی هلته ورغی، له مهاتما ګاندي او د کانګریس له نورو مشرانو سره یې وکتل، وروسته یې زرګونو هندوانو او مسلمانانو ته خبرې وکړې او خلک یې له واقعیتونو خبر کړل.

عبدالغفارخان له هغه ځایه دېره اسماعیل خان ته لاړ. ده د کوهاټ او بنو د مسلمانانو او هندوانو مشران هم ور وغوښتل، لویه جرګه جوړه شوه، خو هندوانو او مسلمانانو په اسانه روغه نه کوله. په دوی کې د حکومت لاس و، حکومت خپل خلک لرل، خبرې به سولې ته تیارې وې، خو یودم به بیا مخالفتونه پیل شول. عبدالغفارخان ډېره هڅه وکړه، خو بریالی نه شو، د هندو او مسلمان جنجال پر ځپل ځای پاتې شو.

دی لا په دېره اسماعیل خان کې و چې د خدایي خدمتګارانو مرکزي دفتر اتمانزو ته ور وغوښت. دی ورغی، هلته یې زړه نور هم مات شو، د خدایي خدمتګارانو یو مهم غړی میا احمد شاه له تحریکه تللی و او ځانته یې بله ډله جوړه کړې وه. ده د تحریک ځینې نور مهم مشران هم تیار کړي وو چې تحریک پرېږدي او ده ته ورشي.

حکومت د تحریک له دې بې اتفاقي خوشاله و او د میا احمد شاه ملاتړ یې وکړ.

د اختلاف د لیرې کېدو له پاره جرګه جوړه شوه، میا احمدشاه خان له کانګریس سره یو ځای والی نه غوښت. ده په هندوانو باور نه درلود. خو کانګریس یوازې له هندوانو نه و جوړ، ډېرو سیکانو او مسلمانانو یې هم عضویت درلود.

میا احمد شاه غوښتل چې تحریک باید له کانګریس سره هېڅ ډول اړیکې ونه لري. خو عبدالغفارخان دا خبره ونه منله. ویې ویل چې په اوسني وخت کې له کانګریس سره د دوی یو ځایتوب مهم دی. که ورنه بېل شي، نو تحریک کمزوری کېږي او کمزوری تحریک په اسانه ماتېدای شي.

د تحریک ډېرو مشرانو د عبدالغفارخان طرفداري کوله، دوی تر نیمې شپې خبرې وکړې، میا احمد شاه پخلا شو، خو سهار یې بیا مخالفت پیل کړ، خبره مالومه شوه، ویل یې چې په تحریک کې ولې یوازې د عبدالغفارخان خبره چلېږي، خو جرګې ملامت کړ، عبدالغفارخان هېڅ وخت په خپل سر کوم تصمیم نه نیو، د ده په پرېکړو کې به د خدایي خدمتګارانو د تحریک د سر سړي شریک ول.

عبدالغفارخان ممبۍ ته د تګ تیاری نیوه چې انګرېزان ورغلل او ویې نیو. انګرېز یوازې د غفار خان په نیولو اکتفا ونه کړه، په ټول صوبه سرحد (اوسنۍ پښتونخوا) کې یې د خدایي خدمتګارانو زرګونه غړي ونیول او په بندیخانو کې یې واچول. یوازې د هریپور په زندان کې یې د تحریک دیارلس زره غړي بندیان کړل.

عبدالغفارخان يې د هزارې باغ بنديخانې ته ور ووست او کوټه قلفي يې کړ. کوټه تياره وه، يوازې يوه وړه پنجره يې درلوده چې مازې رڼا ترې رالوېده. ده ته به د تياره کوټې دروازه يوازې دومره خلاصه شوه چې د کتغ يو لوښی به ترې تېر شو.

دی يوازې و، نمجنې، تياره کوټې د هډوکو دردونه ورته پيدا کړل، وروسته يې دومره اجازه ورکړه چې د ورځې يو دوه ساعته د بندې خانې وړې احاطې ته ووځي. دی به لمر ته ناست و او د خپل ولس د خير، ښېگڼې په اړه به يې فکرونه وهل.

غفارخان شپږ مياشتې يوازې تيرې کړې، د خبرو له پاره هېڅوک نه و، له ده سره هېچا د ملاقات حق نه درلود. ناروغي يې ډېره شوه، د هډوکو د درد له لاسه به په سخته ولاړېده، ان لمر ته هم نه شوای وتلای.

د زندان مسول له حکومت سره خبرې وکړې، حکومت د ده په مړينه کې تاوان ليد، په لکهاوو خلک را پورته کېدل، انگرېز دومره لوی جنجال نه غوښت. ده ته يې د زندان اصلي لويې احاطې ته د ورتلو اجازه ورکړه.

دا زندان په ځنگله کې جوړ و، شپه به د مختلفو ځناورو له نارو ډکه وه، ډېر خطرناک ماران يې لرل، په مياشت کې به خامخا څو بنديان د مارانو د چيچلو له لاسه مړه کېدل.

د زندان احاطه سپېره وه، يو شين ډکی هم نه ښکارېده.

غفار خان د شناخته وو په مرسته تخمونه را وغوښتل، ده نور بندیان تشویق کړل چې احاطه شنه کړي، دوی هلته مختلف سبزیجات، ترکاري او گلان وکرل. احاطه ښکلې شوه. د زندان په دېوالونو کې يې زندان ته د مارانو د راتلو سوړې بندې کړې.

هوا گرمه وه، په لنډ وخت کې د زندان احاطه له رنگارنگ گلانو او مختلفو بوټو ډکه شوه. دې کار درې گټې درلودې، اول دا چې د عبدالغفارخان له زراعت سره جوړه وه، مصروفيت يې صحت ښه کړ، دوهم زندانيانو د خوراک له پاره سبزي او ترکاري پيدا کړه، دريم احاطه ښکلې شوه، شنې او له گلانو ډکې احاطې د بنديانو سترو او نا امېده ذهنونو ته خوشالي ور بخښله.

عبدالغفارخان په دې زندان کې درې کاله تېر کړل، دی د ۱۹۳۴ م کال په دسمبر کې خوشې شو، خو ورته وويل شول چې پنجاب او سرحد ته نه شې تلای.

په ۱۹۳۴م کال کې په بمبۍ کې د کانگرس کميټې پرېکړه وکړه چې عبدالغفارخان د کانگرس د گوند عمومي مشر کړي. غفار خان ورغی، هغه دا پرېکړه ونه منله، ويې ويل چې زه خدايي خدمتگار يم، که دا مسوليت ومنم، نو بايد همدلته په بمبۍ کې پاتې شم، بل ځای نه شم تلای، زه په ولس کې گرځم او لوی هدف مې ولس ته خدمت دی.

عبدالغفارخان د بنديز له لاسه صوبه سرحد ته نه شوای تلای، خو ده کراري نه پېژندله، له گاندي سره يې مشوره وکړه، دی د خلکو د پوهولو له پاره بنگال

ته لاړ. عبدالغفارخان په کليو وګرځېد، ځکه ښاريان لوستي خلک ول، له غونډو او اخبارونو پوهېدل، خو د ليرې پرتو سيمو اوسېدونکي اکثرا نالوستي وو، دوی د ازادۍ په اړه پوهاوي ته ډېره اړتيا درلوده.

انګرېز دلته هم له عبدالغفارخانه وېره لرله، دی يې ونيو او بمبۍ ته يې بوت. دی دوه کاله زنداني شو او په احمد اباد کې يې د سابرمتي بنديخانې ته ولېږه. دی يې له نورو بنديانو بېل واچاوه، عبدالغفارخان د خبرو له پاره هېڅوک نه لرل، د کوټې د پنجرې تر مخې به يوازې بېزوګانې ګرځېدې. دی ناروغ شو، خو ډاکټر يې ورته راونه غوښت.

ګاندي ملاقات ته ورغی، هغه يې بد وضعيت وليد، د ګاندي په مرسته يې ډاکټر ورته راووست او سختي يې يو څه کمه شوه.

له هغه ځايه يې د الموړې زندان ته ولېږه. دلته به تل بارانونه کېدل، ځينو بارانونو به تر لسو ورځو دوام درلود. غفارخان ته بيا د پښو دردونه پيدا شول. ده دوه کاله بنديخانه تيره کړه او د ۱۹۳٦ م کال د اګست په مياشت کې له زندانه ووت، خو لا هم سرحد او پنجاب ته نه شوای تلای.

دی سېواګرام ته لاړ. اولادونه يې د خپل پلار ليدو ته هلته ورغلل. دا وخت په ټول هندوستان کې د اسمبلو انتخابات وشول، ډېرې څوکۍ د کانګرس ګوند يووړې. په سرحد کې هم دا ګوند اول و.

وروسته بنديز ليري شو او عبدالغفارخان له اوو کلونو وروسته قبايلو ته لاړ. ده وليدل چې په پښتنو ډېر ظلم شوی، خو جذبه يې لا ژوندۍ وه. دی چې نه

و، نو سرې جامې هم نه وې، د ده په ورتګ خلکو بیا سرې جامې واغوستې او په احساساتو راغلل. خو مخالفینو هم خپل کار کړی و. په ده پسې یې مختلفو خبرو ته هوا ورکړې وه. نورې خبرې زړونه ته نه لوېدې، ځکه خلکو د عبدالغفارخان په وطندوستي، پاکي او ولس ته په خدمت باور درلود.

حکومت غوښتل چې غفار خان د عقیدې له مخې کمزوری معرفي کړي. ځکه نو د حکومت ځینو تنخوا خورو ملایانو او خواخوږو به خلکو ته قسمونه ایستل چې غفار خان له لمانځه منکر دی، یو لمونځ هم نه کوي. نورو بیا اوازه اچولې وه چې ده د هندوانو دیني کتاب (ګیتا) په ښي لاس کې نیولی و، خو قرانشریف یې په چپ لاس کې و. مانا تر قرانه د هندوانو کتاب ښه ورته ښکارېده.

دا وخت د حکومت په مټ د خدایي خدمتګارانو پر ضد یوه بله ډله جوړه شوه. دې ډلې د مسلم لیګ طرفداري کوله او خدایي خدمتګاران یې له دینه وتلي خلک ګڼل.

ولس ته کار شوی و، دوی اوس په خپل خیر او شر پوهېدل، دې تبلیغ دومره اغېزه ونه کړه.

په ۱۹۳۸م کال کې ګاندي صوبه سرحد ته ورغی او سلګونه زره پښتانه یې استقبال ته را ووتل. غونډې ډېرې منظمې وې، له سلګونو زرو خلکو یوه ناره هم نه راوته، غلي ناست ول، هر چا به په خپل نوبت خبرې کولې، ګاندي د

پښتون دې نظم ته حیران و، ده ویل چې ما په ژوند کې دومره خاموشه او منظمې جلسې کمې لیدلې دي.

ګاندي له هغو هندوانو سره هم وکتل چې په قبایلو کې د پښتنو په مینځ کې اوسېدل او هلته یې کورونه، دوکانونه او کاروبار درلود. هندوان له پښتنو خوښ وو، دوی ګاندي ته وویل چې په پښتنو کې یې سر، مال او عزت خوندي دي.

ګاندي له پښتو ښکلي تصویرونه ورسره یووړل او کله چې بمبۍ ته ورسېد، هندوانو ته یې وویل چې دا خلک په مینه او د نورو په زغملو تر موږ ښه پوهېږي.

خدایي خدمتګاران په ولس ګران ول، له دوی یې له سیاسته ور هاخوا ډېر څه زده کول. کله کله به غفار خان له خپلو سلګونو ملګرو سره ښار ته ووت، کثافات به یې ټولول.

دې کار نورو خلکو ته روحیه ورکړه، دوی به د ښارونو او کلیو د پاکولو له پاره اشرونه کول.

## د پاکستان جوړېدل:

په ۱۹۳۹م کال کې دوهمه نړۍ واله جګړه پیل شوه. انګلستان د جرمني خلاف جګړې ته ور ووت. د دوی ډېر پام نړیوالې جګړې ته ور واوښت.

انگلستان وویل چې هندوستان هم په دې جگړه کې د دوی ملاتړ کوي، دا خبره کانگرس رد کړه او ویې ویل چې هندستان بې پرې پاتې کېږي. انگرېزان لا د کانگرس خلاف شول.

انگرېزانو د کانگرس مهم غړي بندیان کړل، دوی پر خدایي خدمتگارانو هم فشار راووست. یو ځل بیا زندانونه د دې تحریک په غړو ډک شول.

غفار خان په هشنغر کې د لویې غونډې تیاری ونیو. انگرېز وپوهېد چې دا سړی له اوسپنې جوړ دی، زندانونه، شکنجې، لوږې، تندې یې نه شي ماتولی، دوی ته یوازې یوه لاره ور پاتې وه، د عبدالغفارخان وژل.

خو برالا وژل یې دوی ډېر تاواني کول، دا سړی له بوټي نه و پیدا، مېلیونونه پښتانه پسې ولاړ ول.

انگرېزانو دوو وروڼو ته پیسې ورکړې چې عبدالغفارخان ووژني. دا وروڼه لوی جنایتکارن وو او ډېر مړي یې کړي وو. دوی د غونډې کېمپ ته نږدې عبدالغفارخان ته کمین ونیو، درې ورځې په ونو او لوړو بوټو کې ورته ناست ول، خو د تحریک غړي پرې خبر شول، ډزې وشوې، دواړه وروڼه ووژل شول.

په ۱۹۴۱م کال کې جاپان هم نړۍ والې جگړې ته ور گډ شو، ډېر ژر مخکې لاړ، فلپین یې ونیو او د برما تر سرحدونو پورې ورسېد. دې کار انگرېز نور هم وارخطا کړ او په هندوستان کې یې خپل ډېر مخالفین وځپل.

د خلکو ژوند نور هم تریخ شو او په کانګریس کې هم اختلافات رامینځته شول.
تر دې دمه ګانګریس د عدم تشدد مبارزه کوله، خو ځینو مشرانو يې له انګرېز سره جګړه غوښته.
کانګرس عمومي جلسه ونیوله، په همدې جلسه کې به پرېکړه کېده چې ایا د عدم تشد لارې ته دوام ورکړي، که نه ټوپک هم مهم دی.
په غونډه کې ډېرو کسانو وسلواله مبارزه غوښته، خو ګاندي او عبدالغفارخان د عدم تشدد طرفداري کوله. دوی په هېڅ صورت خشونت نه غوښت. دا غونډه بې نتیجې پاتې شوه.
نړیواله جګړه شدیده شوه، جاپانیان د هندوستان پولو ته را ورسېدل. انګرېزانو په هندوستان کې د عمومي پاڅون له ویرې خپل قوانین یو څه نرم کړل. دوی پوهېدل چې څو ځایه نه شي جنګېدلی، غلی هندوستان يې په ګټه و، خو خلک هم ناخبره نه ول، همدا موقع يې غنیمت وګڼله، مظاهرې راووتې، خلکو یوازې یو شعار درلود "له هندوستانه ووځئ."
انګرېز ته بېرته غوسه ورغله، ګاندي او د ګوند څو مهم غړي يې ونیول. د دوی نیول کېدلو خلک نور هم هیجاني کړل او په ټول هندوستان کې عمومي مظاهرې را ووتې.
مظاهرې له کنټروله ووتې، زیاترو خلکو تشدد ته مخه کړه، جګړې وشوې، خو د لور، بېل، لرګي، عادي ټوپکو او طیارو نه سره کېدل، په مختلفو سیمو کې زرګونه خلک په خپلو وینو کې ولمبېدل. حکومت ښځې بې عزته کړې، کلي

يې وسوځول او په ځينو سيمو کې يې داسې عمومي قتل عام جوړ کړ چې د هوا مرغان يې هم را وغورځول.

عبدالغفارخان ته قبايلي مشران کېناستل، د دوی يو وړانديز دا و چې د انګرېز د لويو لښکرو د راتګ د مخنيوي له پاره بايد لوی پلونه والوزول شي، خو عبدالغفارخان د عامه تاسيساتو ورانول نه غوښتل. ويې ويل چې د پلونو د ورانولو پر ځای خپلو خلکو ته ووایاست چې د حکومت وظيفې پرېږدي، خلک دې د انګرېز محصولات نه اخلي او د فيصلو له پاره دې د انګرېزانو محکمو ته نه ورځي.

دا خبرې انګرېز ته د منلو نه وې، په مردان کې يې د ځينو پښتنو په مرسته د خدايي خدمتګارانو پر غونډې يرغل ور ووړ، له دوی سره ډنډې وې، نه يې د چاسر ته کتل، نه پښو ته، ګڼ کسان ټپيان شول، د عبدالغفارخان يې هم دوې پښتۍ ور ماتې کړې. دوی يې د هريپور بنديخانې بوتلل.

د عبدالغفارخان وضعيت خراب و، دی يې روغتون ته بوت، د هغه ټتر يې ور وتاړه، بېرته يې زندان ته ولېږه. هلته بنديانو مظاهره وکړه، دوی د عبدالغفارخان زنده باد او انګرېز مرده باد چيغې وهلې.

عبدالغفارخان د مظاهرې د سر کسان ور وغوښتل، ورته ويې ويل چې په زندان کې له دې نارو څه نه جوړېږي. تاسو بنديان ياست، انګرېز مو نور هم په تکليفوي، نه د خوراک وړ ډوډۍ درکوي، نه مو د ناروغي پر وخت ډاکټر ته بيايي او نه مو ليدو ته د کورنۍ غړي درته را پرېږدي، نو له دې نارو تېر شئ.

عبدالغفارخان يې له هغه ځايه د ايبټ اباد زندان ته بوت او په يوه تنګه کوټه کې يې واچاوه. خو وروسته يې په هفته کې يوه ورځ اجازه درلوده چې له نورو سياسي بنديانو سره ووينې.

کله چې له بنديخانې خلاص شو، بمبۍ ته لاړ.

دی په بمبۍ کې و چې د محمد علي جناح په مشرۍ د مسلم ليګ د ګوند ځينې کسان قبايلو ته لاړل او خلک يې د عبدالغفارخان او خدايي خدمتګارانو د تحريک پر ضد ولمسول. له دوی سره ځينې ملايان هم ملګري ول، هغوی پر غفارخان او خدايي خدمتګارانو د کوپر فتواوې صادرولې.

ځينو خلکو د خدايي خدمتګارانو پر وړاندې له خشونته کار واخيست، دوی يې وهل، ټکول او د مرګ ګواښونه يې ورته کول. دا وخت د عبدالغفارخان زلمي زوی، غني خان د ( پښتون زلمي) په نوم يوه ټولنه جوړه کړه، په دې ټولنه کې هغه ځوانان را ټول ول چې د ضرورت پر وخت يې د تشدد طرفداري کوله. دوی اعلان وکړ چې دا ټولنه به د خدايي خدمتګارانو ساتنه کوي.

مسلم ليګ هم کرار نه وو ناست، دوی د (پښتون زلمي) ټولنې پر ضد د (غازي پښتون) په نوم ټولنه جوړه کړه. خو د (پښتون زلمي) تله درنه وه، زياترو پښتنو له همدې ډلې ملاتړ وکړ.

عبدالغفارخان د پښتنو خپلمنځي اختلافات نه غوښتل، دی وېرېده چې د دواړو نويو جوړو شويو ډلو ترمنځ به وسله واله نښته راشي او د ده کلونه کلونه

د عدم تشدد خواري به ورختمه کړي، ځکه يې خپل زوی ته وويل چې دا ډلې ولس لا سره ويشي او ښه دا ده چې احتياط وکړې.

په ۱۹۴۹م کال کې په ټول هندوستان کې انتخابات کېدل. په همدې انتخاباتو کې په لومړي ځل د پاکستان نوم ياد شو. مسلم ليګ به ويل چې دا انتخابات د هندوستان او پاکستان تر مينځ انتخابات دي. دوی به مسلمانانو ته ويل چې څوک غواړئ؟ هند که پاکستان؟ هندو که مسلمان؟ کفر که اسلام؟ مندر که جومات؟

د مسلم ليګ په خبرو ځينو احساساتي مسلمانانو کانګريس پرېښود او مسلم ليګ ته ورغلل. مسلم ليګ به په پښتون مېشتو سيمو کې هم همدا خبرې کولې، خو دا جذبه دا ځل په پښتنو کې کمه وه، دوی ته عبدالغفارخان کار کړی و، کلي په کلي ګرځېدلی و، پوه کړي يې وو چې د اسلام په نوم دوکه ونه خورئ.

زياترو پښتنو اوس سياسي شعور درلود، ژر نه غلطېدل.

په صوبه سرحد کې هم د اسمبلې انتخابات وشول او خدايي خدمتګارانو مسلم ليګ ته درنه ماتې ورکړه. په پنځوسو کې يو دېرش څوکۍ خدايي خدمتګارانو وګټلې، يوازې اولس مسلم ليګ ته ور رسېدې.

په دوهمه نړيواله جګړه کې المان ماته وخوړه او انګرېزانو د هوسايي سا واخيسته، دوی بېرته خپل قوانين سخت کړل. دا وار خلک زړور شوي وو، په ډېرو سيمو کې د انګرېز پر ضد راپورته شول.

انگریز له عمومي قیامه ډارېده. دوی په ۱۹۴٦م کال کې په شیمله کې د هغه وخت د هندوستان له دوو مهمو لویو سیاسي احزابو (کانگرس او مسلم لیگ) سره کېناستل. په دې غونډه کې له هرې خوا څلورو نمایندگانو گډون درلود. له کانگرسه، مولانا ابوالکلام ازاد، جواهر لال نهرو، سردار پټېل او عبدالغفارخان ورغلل، له مسلم لیگه د دې گوند مشر محمد علي جناح، لیاقت علي خان، راجه محمد او عبدالرب نشتر نماینده گي کوله، برېتانیې هم خپل څلور وزیران ور ولېږل.

د کانگرس د غړو اوله غوښتنه دا وه چې انگرېز باید له هندوستانه ووځي، انگرېزانو ورته وویل چې سمه ده، موږ وځو، خو تاسو (کانگریس او مسلم لیگ) په خپلو کې سره جوړ نه یاست، نو موږ هندوستان چاته پرېږدو!

جواهر لال نهرو ورته وویل چې مسلم لیگ ته یې وسپارئ، خو تاسو خپل ملک ته لاړ شئ.

دا خبره د جناح خوښه شوه، انگرېز ته یې وویل چې موږ په خپلو مینځو کې سوله کوو.

جناح او نهرو سره کېناستل، دوی پرېکړه وکړه چې په گډه به یوه کمېټه ټاکي، په دې کمېټه کې به د دواړو گوندونو یو یو نماینده موجود وي، درېیم کس به یې داسي څوک ټاکل کېږي چې دواړه لوري اتفاق ورباندې ولري، موافقې خبرې به په گډه عملي کوي، خو د اختلاف مسایل به درېیمگړي ته ورسپاري.

دوی پرېکړه وکړه چې همدا خبرې به له انگریز سره شریکوي، خو کله چې د غونډې په دوهمه ورځ انگرېزانو ته ورغلل، جناح د کمیټې له جوړېدو انکار وکړ او د شیملې ناسته ناکامه شوه.

انگرېز ستړی و، دوی په نړیواله جگړه کې ډېر تاوانونه لیدلي وو، په هندوستان کې پاتې کېدا لا تاواني کول، ځکه یې پرېکړه کړې وه چې له هندوستانه به وځي، خو دوی روغ هندوستان نه غوښت.

څه وخت وروسته له انگلستانه دوهم هیئت راغی. دې هیئت هندوستان په دریو برخو وېشلی و. الف، بې، او ج. په الف برخه کې پنجاب، سیند، سرحد او بلوچستان راغلی وو. په بې برخه کې بنگال او اسام شامل ول، ج برخې ډهلي او نورې شاوخوا علاقې درلودې. هرې برخې به په خپلو سیمو کې خپل حکومت، خپل اختیارات او خپل قوانین درلودل، خو خارجي سیاست او مهمې پرېکړې به یې مرکز کولې.

دا وېش د هېچا نه و خوښ، ځکه دې تقسیم د هندوستان تجزیې ته لاره جوړوله، خو جناح یې طرفداري وکړه، ځکه په (الف) برخه سیمو کې مسلم لیگ ډېر واک درلود.

گانگرس له ناچارۍ دا پرېکړه ومنله، ځکه دوی کومه بله لاره نه لیده.

دا وخت د کانگرس په مشرانو کې اختلافات زیات شول. تر دې دمه د کانگرس مشري مولانا ابو کلام ازاد کوله، خو ځینو نورو نوی مشر غوښت. سردار پټېل خپل ځان د مشرۍ وړ گاڼه، خو مولانا ابوکلام ازاد خپله رایه جواهر لال نهرو

ته ورکړه، ده ته نهرو د سړو اعصابو سړی ښکارېده او په دې پېچلو او نازکو حالاتو کې يې مناسب کس باله.

ګاندي هم د پټيل طرفداري کوله، خو کله چې يې د مولانا ابوکلام ازاد رايه وليده، ځان يې غلی ونيو او جواهر لال نهرو د کانګرس مشر شو.

نهرو له مطبوعاتو سره په خپله اوله مرکه کې وويل چې د انګرېز په دې وېش خوښ نه دی او کله چې انګرېزان ووتل، نو کانګريس به له دې معاهدې ووځي.

دا خبره په انګرېز او مسلم ليګ ښه ونه لګېده، جناح ژورناليستان ور وغوښتل او ويې ويل چې د کانګرس د مشر دې وينا هر څه بدل کړل او اوس به له سره پرېکړې کېږي.

د هندوستان سياسي اوضاع  مخ په خرابېدو وه، ځکه د عبوري حکومت دجوړېدو پرېکړه وشوه. محمد علی جناح عبوري حکومت ومانه او پکې شريک شو. عبدالغفارخان د ګاندي په غوښتنه ډهلي ته ورغی، هلته يې د کانګرس په عمومي غونډه کې ګډون وکړ، خبره جنجالي وه، نهرو ويل چې د مسلمانانو حقوق مسلم ليګ ته ورکړل شول، کانګرس د هندوانو حق دی او مسلمانانو ته په قدرت کې کومه برخه نه ورکوي. خو عبدالغفارخان د نهرو مخالفت وکړ، ويې ويل چې کانګرس يوازې له هندوانو نه دی جوړ، مسلمانان هم پکې دي، بايد خپله برخه حق ورکړل شي.

دا خبره د کانگرس نورو غړو ومنله او نهرو يې مجبور کړ چې په داسې نازکو حالاتو کې له خپلې خبرې تېر شي.

وروسته له مسلم ليگ سره د قدرت د وېش پر سر خبرې وشوې، مسلم ليگ داخله وزارت غوښت، خو کانگرس د ماليې وزارت ورکاوه.

عبوري حکومت جوړ شو، خو لا هم ټول واک د انگرېزانو په لاس کې و. انگرېز ويل چې دوی له هندوستانه وځي، خو مناسب وخت ته ماتله دي، د دوی په فکر مناسب وخت لا نه و راغلی.

انگرېز بې غمه و، کانگرس او مسلم ليگ په خپلو کې سره خوړل، د دواړو گوندونو په شريکه کابينه کې اختلافات ډېر وو، هرې خوا به بل لوری ملامتاوه، پر يو بل د غلا تورونه پوري کېدل.

عبدالغفارخان د هندوستان په درېو برخو وېش د انگرېز دسيسه گڼله، له اوله له دې طرحې سره نه و جوړ، د کانگرس او مسلم ليگ د ډېرو مشرانو دروازې يې وټکولې، ويې ويل چې د هندوستان په ډېرو سيمو کې له ديني اړخه يو رنگه خلک اوسي، خو هلته ديني اقليتونه هم ژوند کوي، دا اقليتونه ځپل کېږي او همدا د انگرېز دسيسه ده، خو چا يې خبره ونه منله.

انگرېز همدا غوښتل، ځکه په هره برخه کې د دينونو له اړخه يو رنگ خلک نه اوسېدل، په کومو سيمو کې به چې هندوان اکثريت وو، نو پر مسلمانانو به يې ظلم کاوه، کومې برخې چې د مسلمانانو تر واک لاندې وې، هندوانو او سيکانو ښه ورځ نه درلوده.

همدې عقیدوي جګړو په ټول هندوستان کې کینې را وپارولې، دښمنۍ زیاتې شوې او په زړونو کې د انتقام لمبې بلې شوې. په اول ځل په سیاسیونو کې د هندوستان د تجزیې خبرې را پورته شوې. انګرېز همدا حال غوښت.

عبوری حکومت به بېرته د اختلافاتو د حل کېدا په خاطر د انګرېز لمنه نیوله. خو تېل پاشل شوي وو، مازې د اورلګیت خلی یې غوښت. اول ځل په پنجاب کې د هندوانو او مسلمانانو تر مینځ لویه جګړه وشوه، له دواړو خواوو ډېر کسان ووژل شول، بې عزتې واوښتې.

همدا ظلمونه به په اخبارونو کې راتلل او همدې خبرو به زړونه نور هم سره لیرې کول. په کلکته کې هم جنګ ونښت، هندوان مړه شول، خو هندوانو د همدې جنګ غچ په بهار کې واخیست. د کینې دا لمبې د هندوستان نورو برخو ته هم وغځېدې.

انګریزانو به د خپلو کسانو په مټ تبلیغ کاوه چې انګرېز ښه دی، له هندوستان یې مه باسئ، که مو وایست، نو تر دې بد حال به ووینئ.

مسلم لیګ د هندوانو په سیمو کې خپلو ملاتړو ته وویل چې بنګال ته هجرت وکړئ او د مسلمانانو سیمو ته ورشئ. دا د هندوستان د تجزیې له پاره بل مناسب کار و.

وطن په عقیدو تقسیم کړه، تجزیه اسانه کېږي.

عبدالغفارخان به غونډې نیولې، په اخبارونو کې به یې مرکې چاپېدلې، ویل به یې چې خپل کورونه مه پرېږدئ، دا د هندوستان د تجزیې پلان دی، خو

زړونه له کینو، عقدو او انتقامه ډک ول. نه کېده، ورخ یې وړی و، ځینو خلکو خپل کورونه پرېښودل.

عبدالغفارخان د مسلم لیگ مشرانو ته ورغی، هغوی ته یې وویل چې په خلکو کې د کرکې تخم مه شیندئ، خو دوی یې خبرو ته غوږ ونه نیو.

دا وار په پېښور کې هم مسلمانان د هندوانو او سیکانو پر ضد را پورته شول، ډېر یې د مسلم لیگ کسان ول، دلته هندوان او سیکان په اقلیتونو کې راتلل، ډېر یې ووژل شول، نورو یې د خپلو کورونو دروازې پورې کړې، د دوی دوکانونه چور شول.

دې خلکو پېړۍ پېړۍ گډ ژوند کړی و، درمسال او جومات به په یوه کوڅه کې ول، ماشومانو به یې یو ځای لوبې سره کولې، لویان به د یو بل غم او ښادۍ ته ورتلل، خو زړونه عقدو ونیول. سترگې سرې شوې، پخوانۍ ښیگنې، مینه او شناخت له مینځه لاړ.

عبدالغفارخان لس زره خدايي خدمتگاران ور ولېږل. دوی د هندوانو او سیکانو امنیت ونیو، کوم دوکانونه چې له چوره پاتې ول، بېرته یې خلاص کړل.

د غفار خان په غوښتنه په ټوله صوبه کې د هندو او سیک مال، ځان او عزت خوندي و.

د ۱۹۴۷م کال د جون په درېیمه انگلستان اعلان وکړ چې هندوستان به تجزیه کېږي. دې اعلان په خلکو کې وحشت لا زیات کړ، ټول هندوستان په

لږه راغی، زیاترو هغو کسانو خپل کورونه، ځمکې او جایدادونه پرېښودل چې په خپلو سیمو کې له دیني او مذهبي اړخه اقلیت ول.

وېش حتمي و، کانگرس او مسلم لیگ ومانه.

عبدالغفارخان له گاندي او د کانگرس له مهمو غړو سره وغږېد، ده بېل پښتونستان غوښت، خو بېل پښتونستان نه د انگرېز خوښ و، نه یې کانگرس ته خوند ورکاوه او نه هم مسلم لیگ کومه دلچسپي ورسره درلوده. عبدالغفارخان ټینگار وکړ، انگرېز او دواړو گوندونو ورته وویل چې په صوبه سرحد کې دې ریفرنډم (ټول پوښتنه) وشي.

په دې خبره غفار خان نه قانع کېده، ځکه ده باور درلود چې د عادلانه ریفرنډم شرایط نه دي اماده او دا کار به پښتانه په خپلو وینو کې ډوب کړي.

ده ته د کانگرس ځینو نږدې ملگرو وویل چې ځان مه په تکلیفوه، سرحد لا مخکې د پاکستان برخه گڼل شوې ده، دا خبره کانگرس پخوا لا ورسره منلې ده.

د عبدالغفار خان زړه مات شو، له ده سره به کانگریس ډیرې وړې خبرې هم شریکولې، خو دا وار یې له دومره لویې خبرې ناخبره پرېښی و.

غفارخان گاندي او نهرو ته مخامخ وویل چې موږ ډیرې ستړې درسره وگاللې، تاسو غلي وی، خو پښتون د انگرېز پر ضد له ټوپک سره د عدم تشدد مبارزه هم کوله، د پښتون مبارزې زړه درکړ، خو تاسو پښتون په بده ورځ یوازې پرېښود.

دی د کانگرس له بې وفايي نهيلی شو، زړه يې مات شو او د کانگرس له پاره يې خپلې بنديخانې او سترې ورځې سترگو ته ودرېدې. له کانگرسه ووت، خو ډېر ناوخته و.

ده د ( زما ژوند او جدوجهد ) په کتاب کې د دې پېښې په اړه دا لنډۍ را اخيستې ده:

د زړه په باغ مې ږلۍ وشوه

بويه چې بيا سپرلی راځي سپړي گلونه

کانگريس له ملسم ليگ سره بنگال او پنجاب تقسيم کړل، پاکستان جوړ شو.

## نوی پاکستان او خدايي خدمتگاران:

د هندوستان وېش د نقشې پر مخ اسانه و، ډېره سترېا يې ونه غوښته، يوازې ليکې وايستل شوې، خو په واقعي ژوند کې يې په ټول هند کې د وينو ويالې وبهولې، په هره سيمه کې اورونه بل شول، په اقليتونو پسې به نورو منډې وهلې، نيول به يې، سرونه به ترې پرې کېدل، ښځې به يې بې عزته کېدې، د کار وسايل به ترې اخيستل کېدل.

پاتې ژوندي هندوان او سيکان هندوستان ته لاړل، له هنده هم ميليونونو مسلمانانو پاکستان ته مخه کړه.

په دې وېش کې پښتانه تر ټولو ډېر تاواني شول، دوی له انګرېزه ازاد شول، خو بېرته د پنجاب تر تسلط لاندې راغلل. له دې انقلابه پنجاب تر ټولو ډېره ګټه واخیسته، ځکه ویښ ول.

عبدالغفارخان به ویل: "انقلاب سېلاب دی، ویښ قومونه ګټه ترې اخلي، ویده قومونه نور هم تباه کوي." عبدالغفارخان هېڅوخت پنجاب او مسلم لیګ نه غوښت. دی بیا هم نهیلی نه شو، د ازادي له پاره مبارزې ته یې دوام ورکړ، خو د مسلم لیګ د پښتنو ملایاتو تبلیغات ډېر شول، خلکو ته به یې ویل چې ناشکري مه کوئ، خدای له کوپره (انګرېزه) خلاص کړو، کرار کینئ، څه پروا لري! پنجاب مو خپل مسلمان ورور دی، هغوی چې د خپل مسلمان ورور پر ضد ټوپکې را اخلي، سیده به دوزخ ته ځي.

ټول واک له محمد علي جناح او مسلم لیګ سره و، پښتنو ته یې هېڅ اهمیت نه ورکاوه، یوازې یو څو د مسلم لیګ پښتانه یې په حکومت کې شریک کړل، خو واک یې نه درلود، واک یوازې له پنجابي سره و.

هغوی چې د غفارخان څو کلنې مبارزې یو څه را ویښ کړي و، ځینو د سر کسانو یې هم خپلې سترګې سره ور وستې، ځانونه یې ویده واچول، دوی له دوزخه وېرېدل، د پنجابي هره ناروا یې منله. پښتونواله یوازې خدایي خدمتګارانو ته ورپاتې شوه.

د خدایي خدمتګارانو ژوند نور هم تریخ شو، ځکه دوی د هندوستان تر وېش مخکې له کانګریس سره ول، کانګرس مانا هندوان، دوی ته به په ټول

پاکستان کې له هندوانو د پاتې شویو کسانو په سترگه کتل کېدل. په حکومت کې یې هېڅ ارزښت نه درلود، نه یې په محکمو کې دعوې خلاصیدې، نه یې په دفترونو کې کار کېده او نه یې هم لومړني حقوق ورکول. پنجابیانو د دښمن په سترگه ورته کتل او په نوي جوړ شوي پاکستان کې یې د هندوستان جاسوسان گڼل.

غفارخان نا امېده نه شو، دی به پر کلیو گرځېده او خلک به یې یوالي او د خپلو حقوقو غوښتلو ته رابلل.

ده له ولسه پرته ژوند نه شوای کولای، خوب یې نه درلود، تل په گشت کې و، کله به د نجار دوکان ته ور وگرځېد او کله به له بزگر سره پر پوله کېناست، دوی ته به یې ویل چې خپل اولادونه مکتبونو ته ولیږئ او له خلکو سره مینه وکړئ. ده ساده ژوند درلود، ارزان بیه جامې به یې اغوستې او په یو رنگ خوراک یې قناعت کاوه.

دی حتی په مېلمستاوو کې د ډېر مصرف طرفداره نه و، خلکو ته به یې ویل چې که غواړئ تل مېلمه ولرئ، نومېلمه ته ډېر مصارف مه کوئ، ځکه ډېر مصارف د مېلمنو د کمېدو سبب گرځي او په کم مصرف مو هر وخت وس بر وي.

ده به له اجتماعي ژوند سره د خلکو سیاسی شعور هم پورته کاوه.

خو د پاکستان حکومت له دې خبرو وېره درلوده، رنگارنگ ستونزې به یې ورته جوړولې، ویل به یې چې خدایي خدمتگاران د پاکستان په جوړېدو نه وو

خوشاله او غوښتل یې چې د هند برخه شي. دوی غفارخان او د هغه ملګري هندوان ګڼل او ویل یې چې هند ته وفاداره دي.

پر غفارخان د خبرو ازادي محدوده شوه. خو دا دنګ سړی تسلیم نه شو او خپلې مبارزې ته یې دوام ورکړ. ده په ۱۹۴۸م کال کې د پښتنو له پاره یو خپلواک اداري واحد وغوښت. ده وویل چې پښتانه باید خپل واک ولري. دا خبره د پاکستان پر حکومت بده ولګېده او غفار خان یې په بغاوت تورن کړ. دی یې ونیو او زندان ته یې ولېږه.

د غفارخان د نیول کېدو پر ضد په بابړه کې زرګونو خدایي خدمتګارانو مظاهره وکړه، دوی تش لاس ول، تشدد یې نه غوښت، یوازې د غفارخان د خلاصېدو او خپلو حقوقو چیغې یې وهلې، خو د پاکستان حکومت ټوپکې ورته ونیولې او شپږ سوه خدایی خدمتګاران یې په خپلو وینو کې ولمبول.

مظاهرې ډېرې شوې، حکومت ووېرېد، غفارخان یې له زندانه خوشی کړ، خو لا یې ساه سمه نه وه جوړه کړې چې دوهم ځل بندي شو. دا ځل حکومت یوازې د غفارخان په بندې کېدو قناعت ونه کړ، دوی د خدایي خدمتګارانو تحریک هم غیر قانوني اعلان کړ او په رسمي توګه یې د دې تحریک د فعالیت مخه ونیوله.

په ۱۹۵٦م کال کې یې بیا ونیو، لاهور ته یې ولېږه، هلته محکمې غدار وګاڼه، غفارخان ثبوت وغوښت، محکمې ثبوت نه درلود، دی یې څوارلس زره روپۍ

جرمانه کړ، خو ده پیسې ورنه کړې، محکمې د ده د ځمکو د نیول کېدو فرمان ورکړ، ډېرې ځمکې حکومت ترې وگرځولې.

دی څه وخت په کور کېناست، خو زړه یې طاقت نه کاوه، ده باید پښتانه په خپلو حقوقو پوهولي وای، ځکه یې مختلفو ورځپاڼو ته مقالې لیکلې او په دې مقالو کې به یې پښتون ته سیاسي حقوق غوښتل.

خو کله چې د ایوب خان په مشری نظامي حکومت راغی، دی یې د یوې مقالې د خپروېدو په خاطر ونیو، نظامي حکومت ویل چې غفارخان په دې مقاله کې له پاکستانه د پښتنو بېلېدل غوښتي دي.

غفارخان یو کال بندي و، روغتیایی وضعیت یې بد شو، خوشي یې کړ. خو غفارخان ماته نه پېژندله، له زندانه یې د خوشې کېدو میاشت نه وه پوره چې د پوځي حکومت له خوا د جوړ شوي اساسي قانون پرضد را پورته شو. په دې قانون کې ډېر واک له پوځ سره و، خو ده ملکي حکومت غوښت. بېرته یې بندی کړ، درې کاله وروسته خوشي شو، خو دی نېغ کویټې ته لاړ او هلته یې زرگونو پښتنو ته د اختیاراتو د غوښتلو وینا وکړه.

دی یې بیا ونیو او پینځه کاله قید ورباندې وخوت. دوه کاله وروسته د بخښنې نړیوال سازمان د پاکستان پر حکومت د غفارخان د خوشې کېدو فشار راووست، ځکه غفار خان ناروغه و، بوډا شوی و او په زندان کې یې د مړینې وېره موجوده وه.

ده د تداوي له پاره له حکومته اجازه وغوښته، حکومت اجازه ورکړه او انګلستان ته لاړ.

**په افغانستان کې د غفارخان د ژوند وروستي کلونه:**

کله چې غفارخان د تداوي له پاره انګلستان ته لاړ، زیاترو کسانو فکر کاوه چې غفارخان نور کمزوری شوی دی، دا ناروغ سپین ږیری نور د ډېرې ګرځېدا او بندیخانو توان نه لري، په انګلستان کې به پاتې شي، خو غفارخان تر تداوي وروسته له هغه ځایه کابل ته لاړ او هلته یې د پښتونستان د جوړېدو مبارزه پیل کړه. ده د ۱۹٦۵م کال په اګست کې د کابل په یوه چوک کې زرګونو کسانو ته وینا وکړه او د پښتونستان جشن یې ولمانځه، دا چوک د پښتونستان په نوم ونومول شو.

یو کال وروسته د هند د حکومت په رسمي بلنه له کابله هلته لاړ او د (نهرو د امن انعام) ورکړل شو. په دې جایزه کې اتیا لکه هندې روپۍ هم شاملې وې. غفارخان بېرته کابل ته راغی او دا پیسې یې په افغان ملي بانک کې کېښودې. له همدې پیسو یې د خیر، ښېګڼې په کارونو کې استفاده کوله.

عبدالغفار خان تر ۱۹۷۲م کل پورې په افغانستان کې و، ده په زړښت کې هم لویه حوصله درلوده، تقریبا د افغانستان ټولو برخو ته یې سفرونه کول، په ولسوالیو، کلیو او بانډو به ګرځېده او خلکو ته به یې د یوالي او اتفاق خبرې کولې. ده به خلکو ته ویل چې دلته ځیني خلک ځانونو ته پښتانه وایي، ځیني

تاجیک، ځیني هزاره، ځیني ازبک...خو په نوره دنیا کې داسې نه ده، په هندوستان کې سلګونه قومونه او ژبې موجودې دي، خو هر یو ځان ته اینډین (هندوستانی) وایي. امریکا له بېلابېلو ژبو او قومونو جوړه ده، ټول ځانونه امریکایان بولي، جرمني، انګلستان، ایران، سعودي...ټول همداسې درواخله، نو تاسو هم د ژبې او قومونو په نومونو ځانونه مه سره وېشئ، ټول یو افغان یاست.

دې لوی انسان به تل د خامتا جامې اغوستې، دا نه چې د ښې توټې د اخیستلو وس یې نه درلود، درلود یې، خوده به ویل چې همدا د خامتا جامې مې خپلې دي، ځکه زما د ولس جولاګانو اوبدلې. ده به په ننګرهار کې په خپله ترکاري کرله، بېل به یې واهه او په خپلو کمزورو ګوتو به یې خېشاوه کوله، ده به همدا ترکاري پخوله.

غفارخان ساده ژوند درلود، یو رنګه خواړه یې خوړل او خلک یې هم له ډېرو مصارفو راګرځول. دی هغو مېلمستیاوو ته نه ورته چې ډېر مصرف به ورته شوی و.

کله چې مشرقي پاکستان( اوسنی بنګله دېش) له پاکستانه خپله ازادي واخیسته او بېل هېواد شو، ګڼ قبایلي مشران او خدایي خدمتګاران کابل ته ورغلل او له غفارخانه یې هیله وکړه چې بېرته خپل کلي ته لاړ شي. ده یې خبره ومنله او پېښور ته لاړ.

تر یو څه وخته ښه و، ده په کمزوري ځان په ازاده توګه په غونډو کې ګډون کولای شوای، خو د پښتونوالي خبرې د پاکستان د حکومت نه وې خوښې، دی یې په کور کې نظر بند کړ.

د غفارخان ګذاره سخته شوه، بېرته یې کابل ته مخه کړه، خو په تورخم کې یې ونیو او یو کال بندي شو.

کال وروسته بېرته کابل ته لاړ.

له اوسپنې جوړ دې دنګ سړي کابو څلرویشت کاله په مختلفو بندیخانو کې تېر کړل، لوږې، تندې او ناروغۍ یې ولېدې، خو هېڅکله یې له مبارزې لاس وانه خیست.

کله چې په ۱۹۷۹م کال کې روسان افغانستان ته راغلل، بیا یې هم کابل نه هېراوه، ډېر وخت به په کابل او ننګرهار کې و.

عبدالغفارخان د کانګرس د ګوند د جوړېدو د سلمې کلیزې په مراسمو کې د ګډون له پاره هند ته لاړ.

وروسته یې ناروغي ډېره شوه، دی د ۱۹۸۸م کال د جنورۍ پر شلمه په پېښور کې وفات شو، د مرګ علت یې مغزي سکته وه، دی له خپل وصیت سره سم په جلال اباد ښار کې خاورو ته وسپارل شو.

په ۱۳۹۸ل کال کې د ولسمشر اشرف غني په فرمان د غفار خان قبر ته څه باندې پنځوس میلیونه افغانۍ ځانګړې شوې او قبر په اساسي ډول جوړ شو

.

ده به خپلو خلکو ته ویل:

"یابه یو کیږو ، گنې ورکیږو "

خو پښتانه لا تر اوسه یو نه شول، ځکه لا ورک دي.

پای

## ماخذونه:

**زما ژوند او جدوجهد**

عبدالغفارخان

**په منځني ختيځ کې ولسي مبارزه**

اېډېټر: ماريه جي سټيفن. ژباړه: احمد الله ارچيوال

**زموږ د پاچا خبرې**

ټولونه: يحيى وردک

**پښتانه د تاريخ په رڼا کې**

سيد بهادرشاه ظفر کاکاخېل

**په خدايي خدمتګار تحريک کې د ښځو ونډه**

دروېش درانی

**غفارخان 'فرزند اشتباه مکان'؛ نگاهی به زندگی و میراث 'گاندی سرحد**

محی الدین مهدی

**خان غفارخان و مبارزه عدم خشونت و جنبش سرخ پوشان**

مهرالدین مشید

**عبدالغفارخان**

صفيه حليم